


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: بنگ حبیب الله

لیکوال :: الحاج امین باوري

دچاپ شمېر :: (1000) ټوکه

لومړی چاپ کال :: 2001 م

خپروونکی :: سلام فرهنگي ټولنه

د وهم  چاپ کال :: 1383ل / 2004م کال

خپروونکی :: بېنوا فرهنگي ټولنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يادونه

د بنگ حبيب الله په نوم خوږ نثر مي، چي د امين جان په زيار ليکل سوی دی ولوست، په رښتيا چي د هيواد په ټولنيز جوړښت کي يې د يوه داسي سپېڅلي او مېړني ټولگي بېلگه را پيژندلې ده چي نه يوازي په محلي او سيمه ايزو پيښو کي يې ونډه ځرگنده ده بلکي د هيواد په تاريخ کي هم ځان ته وياړلی باب لري.

د امين جان دې ليکني وهڅولم چي د اثر د خپرېدو پر مهال (د ښه ځوانانو تاريخي بېلگو ته يوه لنډه کتنه) د سريزي په توگه وليکم، هيله من يم چي تاسو ته هم د دې اثر لوستل خوندور وي.

پوهنوال رسول باوري

اسن، نيدر لند

15/12/2001

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښو ځوانانو تاریخي بېلګو ته لنډه کتنه

ښه ځوان د دو کلمو څخه جوړه سوې اصطلاح ده چې یو یې (ښه) او بل یې د (ځوان) کلمه ده، (ښه) هغه مفهوم دی چې د بد او یا ناوړه پر ضد او مقابل کې کارول کیږي او (ځوان) د نارینه تن له پاره د وړکتوب او سپین ږیري توب تر منځ د سن ټاکلي مرحله ده.

په لغت کې د (ښه ځوان) اصطلاح مانا د یوه نارینه انسان د ظاهري څېرې ښکلا او وړتیا تعبیر کیدلای سي، چې په دې تعبیر کې د نوموړي انسان څېره د هغه تر شخصیت او سیرت زیات مرجح شمېرل کیږي، مګر د (ښه ځوان) نوم د یوې منل سوې اصطلاح په توګه خپل ځان ته مانا لري چې د کندهار د سیمو خلګو ته بېله کومې توضیح او بیان څخه د پوهېدلو وړ ده.

د تاریخ په اوږدو کې د (ښه ځوان) نوم د عیار، فتي،شبرو، کاکه، الوفته، پهلوان او نورو نومونو سره په یوه مانا یاد سوي چې هدف یې همدا (ښه ځوان) دی، د ښه ځوان د پېژندلو لپاره په بېلابېلو زمانو کې د زیات شمېر پوهانو او لیکوالانو له خوا لیکني سوي او د هغو د معرفي لپاره یې د خپل وخت هغه ممیزات او مشخصات بیان کړي او لیکلي دي چې د هغو په وسیله یې (ښه ځوانان) پېژندل، د بېلګې په توګه په لغت نامه دهخدا کې د عیار پېژندنه داسي سوېده:

شخصیکه جامه وسلاح مخصوص در جنگ همراه داشته باشد و مخفی کار ها بکند، مانند عمرو عیار(449:3) د سیستان تاریخ لیکوال په خپل اثر کې لیکي: (رجل عیار راکان کثیرالطوائف، ذکیا و حرب، اشخاص کاری و جلد و هوشیار را که از طبقه عوام الناس مردم حامل الذکر بوده اند و در هنګامه ها و غوغا ها خود نمایی کرده یا در حروب جلدی و فراست به خرچ داده، عیار نامیده اند)) 161:36.(

واعظ کاشفي په خپل اثر (فتوت نامه سلطانی) کې داسي لیکلي: (بدان که علم فتوت علمی شریف است و شعبه است از علم تصوف و توحید. . . مبدا فتوت را ابراهیم خلیل الله است. . . و موضوع ان نفس انسان باشد. . . . بعضګی از ائیمه لغت بر ان اند که فتوت جوانمردي باشد)) 12_5،9(

علامه حبیبي په خپله یوه مقاله کې د ښه ځوان تعریف او پېژندنه په لاندي ډول کړېده (ښه ځوان به اصطلاح کندهار برکسی اطلاق میګردد که احتیاجات زنده ګی خود را از راه پیشه وری و کدیمنی بدست می اورد، و انچه کمایي میکرد در همان روز نثار یاران مینمود و برای فردا نه می اندوخت، از صفات برجسته این طائفه سخاوت و توکل بود، مردمی بود خوش پوش و سر شار وازاده، ولی متواضع و غیور با غربا کومك میکردند و از اقویا پروایی نداشتند. . .)) 10:2(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوسني کندهار ښه ځوان د افغانستان د لرغونو پېړيو د پهلوانانو د منځنيو پېړيو د عيارانو او د اوسنيو پېړيو د ښه ځوانانو پرله پسې سلسله ده چي زموږ د هيواد په تاريخي او ټولنيزو پېښو کي يې د يوه خپل واکه ټولنيز نهاد په څېر د پاملرني وړ کار نامې لري او په ځانګړو کړو وړو سره يې د تاريخ بېلا بېل بابونه رنګين کړيدي) .112:3(

زموږ په هيواد کي د پهلوانانو، عيارانو او ښه ځوانانو سلسلې د زمانې په بېلا بېلو مرحلو کي په يوه او بل نوم ياد کړل سوي دي، چي د نومونو دا بېلوالی په يقين سره د دې ډلو تر منځ د تفاوت او بېلتون مانا نه لري، ځکه چي دا نومونه د زمانې د غوښتنو له مخي ايښودل سوي دي او د بلې خوا د هغې زمانې د مقتضياتو پر بنا د هغو کړنلاره او يا دکړو وړو حدود ټاکل سوي دي.

د ښه ځوانانو ډلو د تاريخ په اوږدو کي د زمانې اساسي اړتيا ته پاملرنه کړې ده او د هغو اړتياو په پام کي نيولو سره يې خپل اعمال او افعال تنظيم کړي او يا يې د هغو اړتياوو د تامين په خاطګر خپلي هڅي تر سره کړي دي، د ښه ځوانانو همدې ډلو کله د محلي او سيمه ايزو زور ګويانو او ظالمانو په وړاندي مقاومت کړی او کله هم په ټولنه کي د لوی مصيبت او بد بختۍ په وړاندي درېدلي دي، او بېله کومي طمعي او هيلي څخه يې په خپله خوښه حيرانوونکي هڅي تر سره کړي دي خاصتاً کله چي د هيواد د خپلواکۍ مساله رامنځ ته سوې ده، همدا ډلو د ټولو هيواد والو په مخکني صف د يرغلګرو په وړاندي جنګېدلي دي) 91:10(

ښه ځوانان چي په تېرو زمانو کي د ځوانمرد، شبرو، عيار او يا نورو په نومونو ياد سوي زموږ د ټولني د هغو خپلواکو ډلو غړي دي چي د ښه ځوان مقام ته د رسېدو له پاره يې زياتي ازمويني په بريي تر سره کړي او په دې لاره کي يې د اردلي، يار مرحلې تيري کړي او بيا يې د ښه ځوان مقام ګټلي دي، د دې لپاره چي د ښه ځوانانو په هکله مو بشپړه پېژندنه او معلومات تر لاسه کړي وي، اړينه يې ګڼم چي په تاريخي متونو کي د ښه ځوانانو هغه مميزات او مشخصات په ګوته کړم چي د هغو په وسيله ښه ځوانان د هيواد د يوه ټولنيز قشر په توګه پېژندلاي سو.

د قابوس نامي ليکوال ليکي چي:

ځوان مردي دري اصله لري، لومړي دا چي د رښتيا خلاف و نه وايي، دويم دا چي څه چي وايي هغه وکړي او دريم دا چي شکيب او هوښيار اوسي) .246:1(

او د همدې مطلب په دوام ليکي چي: (پوه شه چي ځوانمردي او عياري هغه وي چي لاندي خصلتونه ولري: يو دا چي زړه ور مېړنی او صابر وي، د هر کار په کولو کي صادق وي، پاك عورته او سپېڅلي زړه ولري، د نورو خلکو تاوان په خپلو ګټو ونه کړي، پر اسيرانو لاس پورته نه کړي، له بېچاره ګانو سره مرسته وکړي، څرنګه چي رښتيا واوري حق د خپله ځانه څخه ورکړي، پر هغه دستر خوان چي ډوډۍ وخوري بد ونه کړي، د نيکۍ په بدل کي بدي ونه کړي.) )246:1(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښه ځوان د ځانګړتياوو په هکله د سمك عيار اثر کي راغلي چي: (کله چي شهزاده خورشيد شاه د عيارانو د مشر کور ته پناه يووړه د هغه مشر څخه يې وپوښتل چي ځوانمردي څو حده لري؟ د عيارانو مشر وويل: چي د ځوانمردی حدود زيات دي خو زه يوازي د دوو يادونه کوم چي يو ډوډۍ ورکول او بل راز ساتل دي)) 1073:11.(

د سياست نامې نومي اثر ليکوال د عيارانو د يو مشر په هکله ليکي چي: (. . . بفرمود تا تره و ماهی و پياز چند بر طبق چو بين نهاده پيش اورند، انگاه فرمود تا رسول خليفه را در اورند و بنشاندند پس روی به سوي رسول کرد و گفت: برو خليفه را بگوی که من مرد رويين زاده ام و از پدر رويين گری اموخته ام و خوردن من نان جو و ماهی و تره و پياز بوده است، اين پادشاهی والات و گنج از سر عياری و شير مردی بدست اورده ام نه از ميراث پدر و نه از تو يافته ام، از پای نه نشينم تا سر تو به مهديه نفريستم و خاندان ترا ويران نه کنم، تا اينکه گفتم بکنم، يا به نان جوين و ماهی و تره باز شوم. . .)) 19:2(

د لطائف الطوائف ليکوال ليکي: (د حلب ښار يوه ښه ځوان د يوې غريبي کورنۍ سره د مرستي په خاطر د هغه ښار د يوه کاروان سرای څخه يو شمېر مالونه د يوه کوهي له لاري چي هلته يې نغم (نقب) رسولی وو غلا کړل، غلا شوي مالونه يې د کورنۍ د مشر په واك کي ورکړل او خپله بيرته حلب ښار ته ولاړ، په سبا ورځ غوغا جوړه شوه او په دې تور يې د هغه کاروان سرای څوکيداران را ونيول او د عام ولس په وړاندي يې د هغو په وهلو ټکولو پيل وکړ، هغه يې ووهل خو څوکيداران چي له غلا خبر نه وه نو يې په ژړا او زاريو د غلا څخه انکار کاوه، په دې وخت کي هغه ښه ځوان راپېښ سو او وې ليدل چي د غلا په تور په ناحقه نور کسان تر وهلو لاندي دي، دا کار يې د خپلو اصولو څخه بېل وګاڼه او د خلکو په منځ کي يې خپل رغ پورته کړ او وې ويل چي: اې خلکو! دا څوکيداران په غلا نه دي خبر دا غلا ماکړېده، او هم يې د غلا سوو شيانو ټوله نښاني وويل په دې کار يې د ټولو باور حاصل کړ او بيا يې وويل: چي دا ټوله شيان ما دې کوهي (څاه) ته اچولي دي او بيا يې وويل چي تاسي زما ملا په يوه رسۍ کلکه وتړئ او زه به د دې کوهي څخه ستاسي ټول شيان راوباسم، همداسي وسول د عيار ملا يې وتړله او کوهي ته يې ورکښته کړ، ښه ځوان چي پخوا د همدې کوهي د نغم له لاري ټوله شيان وړي وو نو دا ځل يوازي په خپله کوهي ته کښته سو او پر خپله لار ولاړ حاضرينو چي يو دوه ساعته انتظار وايست خو د هغه احوال معلوم نه سو بيا يو بل تن کوهي ته کښته سو چي ګوري د کوهي په منځ کي يو نقب سته چي د هغه نقب له لاري هغه ځوان تللی و، د دې خبر په اورېدو ټولو خلکو وويل چي: صد آفرين، هم يې ساتونکي وژغورل او هم يې خپل ځان ته نجات ورکړ.(136:18(

د حبيب السير مؤلف د خپلي زمانې د يوه عيار د ژوند يوه پېښه داسي ثبت کړې ده: (و يعقوب. . . در ان اوقات شبی نقب زد به خزانه درهم بن رافع که به تقلب برسيستان استيلا يافته بود، رفت جوهر بيشمار و امتعه بسيار در هم بسته، بوقت بيرون امدن پايش بر چيزی خورد يعقوب انرا صلب شفاف يافته گوهری پنداشت و برداشت، جهت امتحان زبان بر ان زده، ان نمك نيشاپوري بوده، انگاه اورا غايت حق نمك پر اخذ اموال غالب امده و انچه باهم بسته بود گذشته به منزل خود شتافت، علي الصباح خزانه چي متحير گرديد و نزد درهم رفت و اورا بر صورت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعه مطلع گردانید، درهم فرمود تا در شهر منادی کردند که هر کس این حرکت کرده است به امن است و باید که به ملازمت بشتابد تا به انصاف و الطاف اختصاص یابد، و لیث صفار به دربار شهریار درهم امد و از وی سبب نه بردن اموال خزانه را سوال نمود جواب داد که رعایت حق نمك از تصرف در ان جهان مانع امد. . . )) 6:345)

د سمگك عیار نومي اثر لیکوال د خورشید شاه د مردۍ په اړه لیکي: (خورشید شاه دارویی بیهوشی در شراب معشوقه اش (ماه پری) ریخته است شهزاده بر خاست تا کام خود را گرفته برود، بار عنان خود را کشیده داشت سپس چون ماه پری در می یابد که خورشید شاه در جامه دختران به مطربی نزد او امده است با خود میگوید: جوانمردی کاری فرمود که من تنها در پیش وی افتاده بودم و در من نگاه نه کرد، با این گفته خورشید شاه انصراف نمود. . .)) 11:1075)

د همدې اثر لیکوال په یو بل مطلب کې د سمك په اړوند لیکي چې یوه ورځ سمك عیار په یوه پېښه کې زخمي سو او د خپلو مخالفینو تر تعقیب لاندې و چې یو ملګرې یې هغه د همدې کلي یوه طبیب ته په پټه بوتی، طبیب د سمك عیار تداوي په یو پټ ځای کې کوله چې د هغه مخالفین را ورسېدل او د سمك پوښتنه یې وکړه خو طبیب د سمك د ځای ویل او د هغه مخالفینو ته د هغه ځای ښودل د فتوت او مېړاني خلاف وګڼل او د سمك پته یې وه نه ښوده، د سمك مخالفین چې پر طبیب بد ګمانه سوي وو نو یې هغه تر وهلو لاندې واچاوه، وایې چې په دې وخت کې طبیب تر وهلو لاندې وویل چې: (ای تن ترا بیش از چوب نخواهند زد مردی کن و خود را به دست چوب باز ده و این راز را اشکار مه کن که نا مردی باشد. . . این را گفت و تن در چوب داد جلاد اورا چوب میزد تا چنان چوب زد که هفت اندام او پاره پاره شد و خون روانه گشت و زرند جراح به هیچ گونه اقرار نه کرد و نیاورد. . .) (11:911)

شیخ عطار د ښه ځوانانو او عیارانو د ښه پېژندلو لپاره 72 ممیزې یادې کړې چې دلته را نقلول به یې بګې ګڼې نه وي (راستی، اندیشه از بدی، یاری به دیگران ازادی از بند نفس، پاك داشت چشم و دامن، وفا، بخشیدن بر دوست و دشمن خواستن برای دیگران انچه برای خود میخواهد، جان و دل بستن در راه کسی که مهر بریده باشد، زبان را به گفتن نیا موختن در روز خود را کمتر از مور دانستن، بر اوردن مراد نا مرادان، کردن کاری را نا گفتن و کردن انچیزی که از دست براید، فرو خوری چشم، دل ازار نبودن، خویشتن بین نه بودن، برده بار بودن، نان دادن، زبان و دل یکی داشتن، از پس و پیش یکی بودن، نکر دن کار یکه دیدن و شنیدنش را نه شاید، از برده باری دم نه زدن، راه پارسایی ورزیدن، تزویز نه کردن، رفتن به جایکه او را بخواند و اگر هم بیم جان باشد، دماغ از کبر خالی داشتن، متواضع بودن، از کبر دوری جستن، سخن نرم و تازه به اندازه گفتن، راز دل به هر کس نه گفتن، حسگد نه ورزیدن، به فرزند طمع نه داشتن، به جا اوردن هر ان چي بگویند، ریاضت کشیدن، نا خوانده به جای نه رفتن، به چشم شهوت به دوست نه نگریستن، کجبین نه بودن، خود کام نه بودن، به کام خود و به ضرر دیگران یك گام نه ورداشتن، به اهل زمانه مروت کردن، مردم سخی را دوست داشتن، مدارا کردن به پیران و بخشودن بر جوانان، با

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست و دشمن لاف نه زدن، داد خلق دادن و دستگیری کردن، به خود مغرور نه بودن، اداب نگهداشتن، با عزت بودن، نام کسی را جز به نیکی نه بردن، گرد عصیان نه گشتن، هوای نفس خود را شکستن، پیر و جوان را چنان تر بیه کردن که شرمساز نه شوند، نصیحت در نهان کردن، لباس خود را به هر نا سزا نه دادن، همه کس را مانند فرزند تربیت کردن، قناعت داشتن، به طاعت کوشیدن و دیندار بودن، پیرو و فرمان بودن، صبوری کردن، در نعمت شکر کشیدن، در محنت صبر کردن، بر مهمان شرین زبان بودن، تکلف از میان برداشتن و هر چه باشد پیش اوردن، دلها را به احسان و کرم به دست اوردن، چون شمع در میان جمعیت سوختن، گفتار را با کردار راست داشتن، و درون را از کین پاك داشتن)) 4:174.(

خوشال خان خټك په دستار نامه کي د يوه منلي شخصيت لپاره شل هنرونه او شل خصلتونه په لاندي ډول بيان کړيدي: ( باب اول مشتمل په شل هنره: د ځان معرفت، علم چي کسب او کمال باله شي، هنر د خط چي لازم او ملزوم د کسب او کمال دی، هنر د شعر چي هيرا د علم دي، تير اندازي، اب بازي، اسپ تازي، ښکار، شجاعت، سخاوت، ازدواج د معاشرت، د اولاد تربيت، د تاديب حزم او حشم، اسباب معيشت، زراعت او دهقانيت، تجارت، تحقيق د نصب، علم د موسيقي، سطرنج، تصوير د نقاشي دي)

(باب د خصلتونو دي: مشورت، عزيمت، عدل او انصاف، توکل خوف او رجا، د ملك انتظام، همت، حلم، غيرت، حزم او احتياط او بيا ليکي چي حميده خصائل ډير دي که دا هومره چي وکښل سوه واړه ونيسي لکه سترگي چي د چا د سواد وشي نور هر کتاب په خپله لولي په دا خصائل به هغه وفور خصلتونه بيا مومي)) 5 :8_9(

دا دي تر دې لنډو يادونو وروسته تاسي د هغي ليکني لوستلو ته رابولم چي د ښاغلي امين باوري په زيار ليکل سوې ده، په دې ليکنه کي ټول هغه مميزات او ځانگړتياوي چي په يوه منلي ښه ځوان کي بايد وي او يا په بله مانا ښه ځوان بايد هغه ځانگړتياوي ولري، د دې ليکني د قهرمان يا بنگ حبيب الله د شخصيت اصلي برخه جوړوي، هيله ده چي د لوستلو څخه يې خوند واخلئ

د پښتني کلتور و سپيڅلو دودونو ته په درنښت.

پوهنوال رسول باوري

ښه ځوان به خپل هوډ پري نږدي له لاسه

که يې سر شي د خوني زمري تر زامه

خوشال خټك

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بنګ حبیب الله ( لومړی برخه)

د لوی کندهار په کوڅه او بازار کلي او کور د ځوانانو د مجلس او ناستو ځایونو ګرمه او توده خبره د حبیب الله ماما یا بنګ حبیب الله د هغو کارنامو یادونه وه چي نوموړي د کندهار په ښار او شاوخوا کي تر سره کړي دي، ځوانانو بیله کوم رقابت او حسادت څخه د بنګ حبیب الله کیسي او کار نامې اورېدلې او همدا شان به یې ټکي په ټکي په بل مجلس کي اورولې. او په دې ډول به د ځوانانو مجالس ګرم او تاوده ساتل کېدل.

صوفي مادریم (محمد رحیم) یو له هغو ځوانانو څخه و چي د بنګ حبیب الله کیسې به یې د ځوانانو د مجلسو اصلي موضوع ګرځولې.

مادریم (محمد رحیم) به د بنګ هغه کیسې په خاصه مینه بیانولې چي د میراني غیرت او مهارت څرګندونه یې کوله، کله به د یوې پیښي هغه برخه پیل او دوام به یې وموند چي د حبیب الله ماما د غیرت لوری به یې څرګنداوه، او کله به بیا هغه کیسه پیل سوه چي د بنګ د ورځني مهارت څرګندونه یې کوله.

د ژمي فصل لنډ مازیګر به د دنګانو (پاي کوب) په پیتاوي کي د صوفي مادریم مجلس پر ځوانانو لا زیات لنډ کړ،زیات شمېر ځوانان به د ورځي په اوږدو کي د بنګ په هکله د صوفي مادریم له خولې اورېدلي کیسې یو او بل ته کولې او کله نا کله به ځوانانو د بنګ حبیب الله د لنګوټې د ترلو نکل اورېدلی و هغه به د بنګ د لنګوټې په شان خپله لنګوټه ترله، او کوم ځوان ته به چي د بنګ د لاري تګ کیسه خوند وره سوې وه هغه به بیا د نورو ځوانانو په منځ کي د حبیب الله ماما په شان پر لار روانېدی، او چا به د حبیب الله ماما یوه بله کارنامه یادوله او په دې ترتیب به ځوانانو د ورځي زیاته برخه په دې امید او انتظار تېروله چي بیا به مازیګر صوفي مادریم (محمد رحیم) راشي او د حبیب الله ماما په هلکه به نوي او نوري کیسې وکړي.

زما یاد دي چي د یوه ژمي څو ورځي د ځوانانو دا مجلسونه پاشلي او بې مزې ښکارېده، د دې بې خوندۍ سبب دا و چي صوفي مادریم کندهار ښار ته سفر کړی و نو ځکه به د مجلس پخوانۍ کیسې تاو را تاوکېدلې، او د حبیب الله ماما په اړه به نوې کیسه نه وه، خو له یوې اونۍ وروسته د ځوانانو دا مجلس بیا ګرم سو صوفي مادریم د کندهار د بنګ نوي او په زړه پوري کیسې او خبري راوړي وې.

یوه ورځ د ځوانانو په دې مجلس کي پر صوفي مادریم سرګبېره لنډ ور خدای نظر خان،مامد شاه خان (محمد شاه خان) استاد مد انور (محمد انور) کلك ماجتي (مسجدي) بسم الله جان او نور ځوانان ناست وو چي د حبیب الله ماما په اړه بحث لا ګرم سوی و، صوفي مادریم چي تازه له کندهاره راغلی و د حبیب الله ماما د نوو او حیرانوونکو کیسو څخه یې یوه ډېره جالبه داسي پیل کړه، وایې چي یو وخت ظاهر بابا کندهار ته راغلي و، د کندهار نائب الحکومه عبدالغني خان د هغه لپاره ډېر تیاري نیولې وه، ډېر زیات خلګ د ظاهر بابا د لیدلو له پاره عید ګاه دروازې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راغلي وو، کله چي ظاهر بابا د سړك په منځ کي روان و زيات پوليس پر راګرځېدلي وو او خلګ به هغه ته د لاس ورکولو په خاطر ور کيدل

تاسي به اورېدلي وي چي هر څوك د پاچا مخ ووينې پر هغه د دوږخ اور حرام دی، نو ځکه زيات بېروبار جوړ و او هر چا غوښتل چي سپين چرګ سي، په دې وخت کي چي د ظاهر بابا سپايانو (سپاه) د هغه د تګ لاره خلاصوله که ګوري چي د دې زياتو خلګو په منځ او مخامخ خوا کي يوه بله لويه لاره خلاصيږي او خلګ بېله ځنډه يوه تن ته لاره ورکوي چي د ظاهر بابا خواته ور سي.

د خلکو په منځ کي يو تن چي منځنۍ ونه يې درلوده، د تور پاچ لنګوټه يې تړلې، د ترخځو کالي او د ريبکاټ سدرۍ يې پر تن او چار اشه موچنې يې په پښو او په کيڼ لاس کي يې د خپلي سدرۍ او لمني ښي خوا نيولې وه په ډېر غرور را څرګند سو، په دې وخت کي ظاهر بابا د نايب الحکومه څخه پوښتنه وکړه چي دا څوك دی نايب الحکومه د ظاهر بابا غوږ ته ځان کړ او ورته يې وويل صيب دا بنګ دی د کندهار بنګ، ځني خلك ورته حبيب الله ماما هم وايي.

وايي چي ظاهر بابا بيا وپوښتل چي هغه څه غواړي او ولي هغه ته خلکو داسي لار پرېښېږده؟ وايې چي بيا نايب الحکومه سر ور کی او وي ويل: زه هم نه پوهېږم بنګ خو داسي مجالسو ته نه راتلی او دا چي نن ځنګه راغلی دی زه هم نه پوهېږم.

په دې وخت کي حبيب الله ماما د ظاهر خان خواته ورغلی او په لوړ ږغ يې وويل چي: سلام عليکم (بس زياتره) ته زموږ پاچا يې زه يوه پوښتنه کوم بس زياتره چي که چيري يو څوك ستا د پلار قبر خراب کي ته د هغه سړي سره څه کوې؟ ظاهر خان چي دا پوښتنه واورېده سمدلاسه يې ځواب ورکی چي زه څوك نه پرېږدم چي زما د پلار قبر خراب کي وايي چي حبيب الله ماما په زوره زوره وخندل او بيا يې و ظاهر خان ته مخ واړاوه او ويې ويل چي اي زموږ پاچا دا لويه هديره چي ستا ښاروال يې غواړي خرابه کړي دا د کندهاريانو د پلار او نيکه هديره ده بس زياتره تا ته چي د خپل پلار قبر ګران دی، موږ ته هم زموږ پلرونه همداشان ګران دي او څوك نه پرېږدو چي زموږ د پلار او نيکه هديره ورانه کړي، خپل ښاروال ته ووايه چي زموږ د هديرې عزت وکړي بس زياتره.

ظاهر بابا چي دا خبره واورېده نايب الحکومه ته يې مخ واړاوه او پوښتنه يې وکړه دا څه خبره ده؟ نايب الحکومه سمدستي ځواب ورکړ چي صيب د کندهار ښاروالي غواړي چي دا ښار پراخ سي، او د نوي ښار نخښه (نقشه) پر همدې هديره راغلې ده په دې هکله څو ځله د کندهار خلګو او سپين ږيرو هم غوښتنه کړې وه خو د ښاروالۍ له خوا ورته منفي ځواب ورکول سوي و دا دی نن بنګ هم همدا غوښتنه وکړه، په دې وخت کي ظاهر بابا امر وکی چي ښاروالي ته امر وکړي چي د نخښې لوری تغير کي، حبيب الله ماما چي کله دا امر واورېد نو بيا يې لاس د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای په اماني په ډول پورته کړ او وې ويل زما همدا عرض و، اباد اوسې د خدای په امان، نو حبيب الله ماما په دې ډول د لويي هديرې د ورانېدو او بربادۍ مخه ونيوله.

د صوفي مادريم دې کيسې ته ټول ناست ځوانان يو غوږ سوي او د صوفي مادريم خولې ته داسي ځير وو ته به وايې چي د نه هېرېدلو خبره اوري، په دې وخت مد انور (محمد انور) استاد د صوفي د خبرو په دوام وويل: هو هو څوك خو بنگ نه سي کېداي، د چا پلار هم نه سي کولاي چي و ظاهر بابا ته داسي خبره مخامخ او په مېړانه وکړي، هغه يو غيرتمن سړی دی او د غريبانو لاس نيوی کوي او د ظالمانو مخه نيسي، تاسي به اورېدلي وي او که نه، وايي چي يوه ورځ د برو دروازې په يوه سماوار کي بنگ د څو نورو انډيوالانو سره ناست و چي نا پامه يو چار شانه ځوان چي غټه لنگوټه يې تړلې وه، د ترخزو کالي او د ريبکاټ سدرۍ يې اغوستې او چار اشه مچنه يې په پښو وه سماوار ته راغی او د سماوارچي څخه يې پوښتنه وکړه چي ورور بنگ حبيب الله به دې نه وي په سترگو سوی؟ سماوارچي بېله ځنډه او په بې فکري ورته وويل چي هغه د ناستو خلکو په ميان کي يو بنگ دی، راغلي ځوان هم د ځوانانو پر خوا ورغی او د سلام وروسته يې وويل چي ورونو په تاسي کي کوم يو حبيب الله دی؟ په دې وخت کي يوه تن وويل چي واليکم سلام، وروره ستا کوم حبيب الله په کار دی که دي وچ حبيب الله په کار دی خو زه يم او که بنگ غواړې نو خبره دي وکه، راغلي ځوان وويل چي يا هغه ستا بنگ غواړم، په دې وخت کي حبيب الله ماما مخ ورته راواړاوه او وې ويل چي وروره زه هم حبيب الله نومېږم خو ځيني خلگ لکه چي تا وويل ما په همدې نوم هم يادوي، وايه وروره چي زما سره دي څه کار و؟ هغه ځوان ورته وويل چي هو ستا سره مي کار دی وطن دي په اوازو ډك کړی او ته لکه بوم پټ ناست يې، زه راغلم چي درسره مالومه يې کړم، نور مي ستا د نومه خوا گرځي، پوهېږي زياته زه غواړم چي يا ته يې او يا زه، په يوه وطن کي دوه اسمانه نه ځايېږي، ناستو ځوانانو د دې راغلي ځوان خبري تر حده تيري وليدې او په دې وخت کي د حبيب الله ماما يوه انډيوال هڅه وکړه چي راغلي ځوان ته د هغه د دې بې پروايي يو سپك درس ورکړي چي د حبيب الله ماما ورته فکر سو او پر خپل انډيوال يې ږغ وکړ چي پام کوه دې ورور زما نوم اخستی، ته کرار کښېنه چي لاس ونه ښوروې، د حبيب الله ماما په دې ږغ د هغه ټول انډيوالان هل پك پاته سول او هيچا د هغه د امر خلاف کار ونه کړ هر يو پر خپل ځاي کښېناست او څار يې کاوه.

حبيب الله ماما بيا راغی ځوان ته يې وويل چي وروره بس زياتره ما خو هيچا ته نه دې ويلي چي زما صفت وکړي په رښتيا چي دا مي ښه نه ايسي، خو ستا نوم زه نه پېژنم او تا زما نوم اورېدلی دی اوس ته خپل نوم ماته ووايه زه چي هر ځای کښېنم ستا صفت به کوم او تا به يادوم چي ډېر ښه ځوان دی او له دې زيات که بله کومه خبره لرې هغه هم راته ووايه چي هغسي وکړم، حبيب الله ماما لا خپله خبره نه وه خلاصه کړې چي راغلي ځوان په تند اواز وويل چي ډېر غور او پور مه کوه زياته بس را ولاړ سه چي دا اور پر لاس کښېږدو او نر او ښځه مالومه کړو که تا ږغ وکړ بيا به ځان ته بنگ نه وايې او که ما ږغ وکړ بيا به زه روْپ نه يم خپل نوم به اړوم او ښار به پرېږدم، راځه را ولاړ سه زياته بس.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ حبیب الله چي د دې ځوان دا خبري واورېدې وې ویل: روْپ جانه راځه کښېنه زه او ته څه بدي لرو زه ستا پر پل نه یم ختلی او ته زما، راځه د انډیوالۍ خبري وکړو بس زیاتره ولي یو او بل سره ازار کړو په اور کي به زما او ستا د غوښو سوځول څه مړانه وي، دا هیڅ مړانه نه ده بس زیاتره راځه خپلي توري او شنې وچښو.

په دې وخت کي روْف جان د حبیب الله ماما لاس ونیوی او د سماوار د دروازې پر لور یې د بېولو هڅه وکړه او وې ویل: زویه زیاته بس زه د مسخرو لپاره نه یم راغلی راځه راولاړ سه او بنګ یې د سماوار د دروازې په لور روان کړ، حبیب الله ماما هم د ځوان د حرکت سره ور ولاړ سو او د دروازې خواته ورغی، په سماوار کي ناست خلك ټول هك پك دي چي اوس به څه پیښېږي وار په وار د ناستو خلګو د زړه دربی زیاتېدی او په ځیر یې د دې زور ازمایي سیل کاوه.

بنګ او روْف جان دواړه د سماوار دروازې ته سول چي هلته د سماوار د چاینکو لپاره د سروسکروټو لمبې په پیك وهلو لاسرې سوي وې، اول روْف جان یوه لویه سکروټه د اتشدان څخه را واخیسته او پر خپل لاس یې کښېښوده، بیا یې د حبیب الله ماما خواته په یوه مانا داره ډول وکتل او ورته وې ویل زویه زیاته بس څه ته ګورې در واخله یوه سکروټه در واخله، فرق نه لري لویه وي که کوچنۍ یوه خوښه کړه، په دې وخت کي حبیب الله ماما د خپل راسته لاس لستوڼی پورته کۍ چي پر لاس یې نور د اور ایښودلو ځای نه وو، بیا یې د چپه لاس لستوڼی پورته کړ هغه لاس یې تر ها بل بد تر و بیا یې د روْف جان خواته وکتل چي ګویا د لاس پر کوم ځای اور کښېږدي، په دې وخت کي بیا روْف جان ورته وویل څه راته ګورې زیاته بس سکروټه در واخله،که یې زور نه لري بس بیا رخصت یې.

حبیب الله ماما چي دا تر خولې تیري او زیاتي خبري واورېدې نو د اتشدان څنګ ته کښېناست او د سکروټو په خوړلو یې پیل وکی، یوه یوه سکروټه یې را اخلي او خولې ته یې اچوي او هره سکروټه تر غاښو لاندي داسي ژوبي ته به وایې چي لانده کورت یې خولې ته اچولي دي، روْف جان چي دا حالت ولیدی سمدستي یې د بنګ لاس ونیوی او په لوړ اواز یې وویل چي بس دی زیاته بس نور ته بنګ یې او دا ښار زما څه پاته دی نوش جان دي سه ته پوهېږې او ستا ښار زه درڅه ولاړم. او بیا یې ناستو ځوانانو ته مخ ور وګرځاوه او و یې ویل چي یارانو که چا په ښار کي د روْپ پوښتنه کوله ورته وواياست چي روْپ مات سو او ښار یې بنګ ته پرېښوی حبیب الله ماما چي د روْف جان خبري واورېدې دستي یې وانډیوالانو ته مخ واړاوه او وې ویل چي یارانو روْپ شین زمری دی او په ښار کي د حکومتیانو څه نیولې تر نورو په دې ښار کي ژوند کوي دلته یو څو ګیډړان هم شته چي د مخ نیوي لپاره یې زمري ته اړتیا ده دا غټ ښار ته یوازي موږ او تاسي دا څو کسه نه سو رسېدلای موږ او تاسي به ټول ښار د ګیدړانو او داړیانو څه خلاصوو، زه غواړم چي روْپ جان زما خبره ومني او زموږ او ستاسي سره یو ځای بس زیاتره د غل او غدو لاسونه بند کړي، څنګه یارانو داغسي ده که نه؟ د حبیب الله ماما ناستو یارانو ټولو په یوه ږغ وویل چي هو همداسي ده په دې وخت کي روْف جان د حبیب الله ماما لاس ونیوی او د اتشدان څخه یې راولاړ کی په خپله شمله یې د حبیب الله ماما خوله ور پاکوله چي ګوري د بنګ د یوې زامي خوا لویه تناکه سوه او وچاوده اوس هم چي سرې ورته وګوري د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبيب الله ماما د مخ يوه زامه په يوه لږ پوستكي پوښلې ده د خولې د ننه غوښه يې هغه وخت وسوځېده چې بيا جوړه نه سوه.

د استا مد انور (محمد انور) خبري لا پای ته نه وې رسېدلي چې مامد شاه خان (محمد شاه) ور ږغ کړه او وې ويل چې هو بنگ خو هم د ننگ سړی دی او هم د جنگ، هر څوك رښتيا هم د بنگ په رکم نه سي کېدای، کله چې مامد شاه خان غوښتل چې د حبيب الله ماما په اړه يوه بله نوې کيسه وکړي بسم الله جان د هغه خبري لنډې کړې او وې ويل، وايي چې بنگ د تور پاچ لنگوټه تړي، د ترخځو کالي، د ريبکاټ سدرۍ او چار اشه مچنې په پښو کوي دا مي هم اورېدلي چې هغه ډېري خبري هم نه کوي پر يوه ځای چې کښېني تر څو چې بل کار نه وي ورپيدا سوی پر هماغه ځای ناست وي، وايي چې کله ناکله د يارانو سره د چلم پر وخت خاندي خو ډېر لږ، ماته يوه کندهاري په برو دروازه کي وويل چې حبيب الله ماما هيڅ وخت خپل لمونځ نه قضا کوي او همېشه په اودس گرځي د چا مال ته په تمه نه دی چې طلا پرته وي نه يې اخلي زيات وخت د شپې گرځي او کله چې کوم ظالم ووينې د هغه لاس نيسي او د مظلوم مرسته کوي، په لښته خورا ټينگ او داسي خردوم چلوي چې هر څوك يې توان نه لري، ظالمان خو څه کوي وايي چې حکومتيان هم ځان ځني چپوي.

مامد شاه خان د بسم الله جان د خبرو په پای کي د ناستو ځوانانو پام د لمانځه وخت ته واړاوه او وې ويل چې د حبيب الله ماما يو عادت د لمانځه ادا کول دي راځئ لمونځ وکړو، زه بيا تاسي ته د بنگ يوه داسي کيسه کوم چې تر اوسه چا نه وي اورېدلې، خو يو صوفي مادريم که په خبر وي نسم ويلای زما گمان نورو به نه وي اورېدلې، ټول ناست ځوانان په دې هيله چې سبا به د مامد شاه خان څخه د حبيب الله ماما نوې کيسه واوري د لمانځه پر خوا روان سول.

ورځي ورځي به د ځوانانو په مجلس کي د يوه او يا بل ځوان کيسه کېدله خو داسي ورځ به نه وه چې په مجلس کي به د حبيب الله ماما کيسه نه يادېده بيا خاصه چې په مجلس کي به صوفي مادريم ناست و، يوه ورځ ماجتي (مسجدي) ته ياد سول چې مامد شاه خان هم يوه ورځ د حبيب الله ماما د يوې نوې کيسې وعده کړې وه، په دې ورځ چې د ځوانانو مجلس بيا د صوفي مادريم په کيسو گرم سوی و، ناڅاپه ماجتي پر مامد شاه خان ږغ وکی چې خانه تا خو هم د يوې کيسې وعده کړې وه خو بيا دي هېره کړه اوس به يې حتمي کوې، په دې وخت کي ټولو ځوانانو په يوه اواز وويل چې هو خانه، هو خانه نن به حتماً هغه کيسه کوې نن دي نه پرېږدو خامخا به هغه کيسه کوې مامد شاه خان چې کله دځوانانو مينه د حبيب الله ماما له کيسې سره وليده نو يې په يو خاص انداز وويل چې زما هېره ده تاسي کومه کيسه يادوئ؟ حبيب الله ماما خو ډېري کيسې لري، مامد شاه خان چې لا خپلي خبري نه وې خلاصي کړي بسم الله جان ور ږغ کړه هغه کيسه وکړه چې موږ تر اوسه نه ده اورېدلې، ښه هغه کيسه تاسي اورېدلې که نه چې د يوې سارايي ښځې څخه يوه کيسه بر پيسي غلا کړي وې، په دې وخت کي يو شمېر کسانو وويل چې هو دا کيسه موږ اورېدلې ده، يوه بله کيسه وکړه يو نور شمېر چې د بوډۍ او کيسه بر کيسه نه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورېدلې، هغو بیا غوښتل چې همدا کیسه وکړي صوفي مادریم چې د مجلس حال دوه ګونی ولیدی نو یې په ځو لنډو جملو کې د همدې کیسې په اورولو پیل وکړ او په دې ترتیب یې مجلس ته بیا رنګ ورکړ او وې وېل: چې دا کیسه خو ځو واره دلته سوې ده ټوله ښار خبر دی چې یو وخت یوه سپین سرې ښځه کندهار ته د زوی د واده په خاطر د ځینو مالونو د رانیولو لپاره تللې وه هلته کیسه بر د هغې خواره کې ځخه پیسې وهلي وې، او سپین سري په ژړا او نا امېدی د سړك پر غاړه ناسته او بد او رد یې ویل، په دې وخت کې حبیب الله ماما د هغه ځایه تېرېدی چې د ښځې ور فکر سو او په لوړ ږغ یې د حبیب الله ماما پر خوا ناره وکړه او وې ویل اې تاته وایم ګوره تاته وایم چې غټه لنګوټه دې تړلې ده بنګ حبیب الله چې تر خپل بغل وکتل یوه سپین سرې ښځه یې ولیده چې ده ته ګوري او خبري کوي، بنګ ور وګرځېدی او له سپین سري ځخه یې پوښتنه وکړه چې مور تا ماته څه ویل او که. . . بنګ لا خپله خبره نه وه خلاصه کړې چې سپین سري ږغ وکی او ورته وېې ویل مور دې سر وخوره هو تاته وایم ته چې غټه لنګوټه دې تړلې ده، تاته وایم و شرمېږه ته هم ځان ته پښتون وایې غټه لنګوټه دې تړلې او کوږ کوږ ګرځې اود ښځو ځخه په غلا سوو پیسو ځان ته کالي کوې او بیا داسي په خیال هم ګرځې، حبیب الله ماما چې د سپین سري په درد پوه سو نو لا ور نژدې سو او په حال د پوهېدو هڅه یې وکړه، بیا یې ورته وویل چې موري پېښه څه ده چې داسي راته دردېږې؟ سپین سرې داسي په غوصه وه چې ته به وایې چې همدا یې غل دی، د بنګ د خبري جواب یې په خبرو نه بلکې به تو کولو ورکی مخامخ د حبیب الله ماما خواته ودرېده او پر مخ یې ناړې ور تو کړې، بنګ پوه سو چې کوم چا د سپین سري سره ناځواني کړېده، نو ځکه یې څه ونه ویل او بیا یې د هغې ځخه پوښتنه وکړه چې موري ته راته ووایه چې څه پېښ سوي؟ زه خو په هیڅ نه یم خبر سپین سري جبیب الله ماما ته وویل چې ولي دي ځان ناګاره واچاوه زما پیسې دي جېب ته کړې او اوس پوښتنه هم کوې ما په څه خواریو او کبوتیو دا زر روپۍ زار مرې پیدا کړي وې او هغه هم تا را ځخه غلا کړې وشرمېږه پخوا به ځوانانو د ښځو عزت کاوه خو اوس ځوانان د ښځو له جېبه پیسې غلا کوې او خپلو ځانو ته غټه لنګوټه رانیسي وشرمېږه دا لنګوټه نه ده دا پوړنی دی.

سپین سري ښځې چې خپله خبره ورته وکړه حبیب الله ماما سمدستي د هغه دوکان مخ ته ورغی چې هغه سپین سرې ښځه هلته ناسته وه، دوکاندار ته یې وویل چې وروره زه حبیب الله نومېږم او په برو دروازه کې مې کور دی زما یو زر روپۍ په کار دي که در سره وي په پور یې راکړه، زه تر هغه وخته دلته ستا سره ګرو کښېنم تر ځو چې ستا زر روپۍ زما له کوره رارسېږي، دوکاندار چې د خپل دوکان په مخ کې د کندهار بنګ ولیدی نو بېله ځنډه یې د خپل دخل ځخه پیسې را وایستلې او یو ځو پاته یې د خپل څنګ دوکاندار ځخه واخیستلې او د حبیب الله ماما اړتیا یې پوره کړه، حبیب الله ماما د دوکاندار ځخه پیسې واخیستې او هغه سپین سرې ښځې ته یې ور کړې او ورته وېې ویل چې دا دې موري خپلې پیسې دي واخله وې شمېره چې پوره دي او که نه؟ خو موري بس زیاتره دوې خبري واوره اول خپل مال ټینګ ساته او دوهم هر ځوان غل مه بوله پښتانه هر وخت د خور پوړنی ور پر سر کوي خو کله نا کله یو ظالم هم پکښې پیدا کیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ مور پیسې د حیرانتیا سره یو ځای وشمېرلې او وې ویل چې، خیر ووینې زویه اوس چې دې زما پیسې راکړې نور توبه وباسه دا غلا مه کوه خلگ به بدواوې درته کوي چې هم به دې دنیا او هم به دې اخیرت خراب سي، بنگ چې سپین سرې ته پیسې ورکړې او هغه یې رخصت کړه بیا بیرته هغه دوکان ته ورغی او دوو یارانو ته یې چې د همدې پیښې په وخت کې را پیدا سول وویل چې حقداده وروره ته او زمری دواړه نن په ښار کې وگرځئ او شا او خوا ټولو بد سترگو ته وواياست چې د نن ورځې تر ماپښين لمانځه د مخه که د دې کونډې خور پیسې را و نه رسېدې نو بیا به هغه سړی گیله زما څه نه کوي بس زیاتره، هر څه چې بیا ور پېښ سول گناه به یې پر خپله غاړه وي، زمریه وروره ته هم بس زیاتره د حقداد سره یو ځای وگرځه هغه ببر لکیان خو ځینې پېژنې هغو ته هم خبر ورکړه، ځئ ولاړ سئ او زه بیرته تر لمانځه دمخه بس زیاتره دلته راځم او د همدې ورور په دوکان کې ناست یم، زموږ او ستاسي نښاني همدا دوکان دی.

د ماپښين د لمانځه وخت رانژدې سو او حبیب الله ماما هم د هغه دوکان په لوري راغی،کله چې راورسېدی اول یې و دوکاندار ته سلام وکړ او بیا یې پوښتنه وکړه چې دوکانداره وروره ته خو به خوا بدی سوی نه یې چې زه لږ څه وځنډېدم دوکاندار ورته وویل چې یا حبیب الله ماما زه یوازې دې ته خوشاله وم چې کله به ته راسې چې زما په دوکان کې لږ مجلس وکړو ما د خدایه دا غوښتل چې یوه ورځ ستا سره پر کراره کښېنو او مجلس وکړو، ما نن ورځ ډوډۍ هم ستا له پاره ماتله (معطل) کړېده ښه سو چې راغلې بنگ د دوکاندار خبرې لنډې کړې او وې ویل چې خدای دې خیر درکړي زه پرېشانه وم بس زیاتره چې تا به څنگه خیال کاوه چې دا حبیب الله خو ورك سو دا دی زه راغلم رښتیا ستا په دوکان کې خو به چا زما پوښتنه نه وي کړې؟ خو یوازې یو نفر چې په ځان لږ څه تیټ و دوه واره راغی او ستا پوښتنه یې وکړه او وې ویل چې وروسته به بیا هم راسي.

دوکاندار او حبیب الله ماما لا د ډوډۍ په سمولو بوخت وو چې یو ځوان راغی او سلام یې واچاوه او د حبیب الله ماما سره یې ښه گرمه ستړې مه سې وکړه دوکاندار ډوډۍ تیاره کړه او حبیب الله ماما پر دې نوي راغلي ځوان هم ږغ وکړ چې راځه وروره څه چې تیار وي هغه د یار وي راځه چې ډوډۍ وخورو، مېلمه حبیب الله ماما ته وویل چې زه ډوډۍ نه خورم ستا سره مې لږ کار دی زه ځم.

بنگ ورته وویل چې راځه وروره کارونه به خدای خیر کړي، اول به ډوډۍ وخورو بیا به د کارونو غم کوو راځه.

مېلمه هم را ولاړ سو له دوکاندار او بنگ سره یې یو ځای ډوډۍ وخوړه چې ډوډۍ خلاصه سوه حبیب الله ماما لمانځه ته ولاړ سو، راغلي مېلمه بیا وویل چې حبیب الله ماما زما ستا سره لږ کار و چې دمخه تر لمانځه باید ووایم، بنگ پوښتنه وکړه چې خدای دې خیر کې څه پېښگه ده چې تلوار دې دی ووایه چې زه څه خدمت کولای سم؟ مېلمه یې غوږ ته ځان نژدې کړ او پټ یې ورته وویل چې حبیب الله ماما نن سهار مې یو غلط کار کړی او راغلی یم چې خپل عذر وغواړم بنگ چې په خبره پوه سو نو ورته وې ویل چې ښه هغه ته یې، ولې دې بس زیاتره دا د بېمانۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ته ملا تړلې ده ته نه شرمېږې چې د سپيتاني په ډوډۍ دې ځان چاغ کړی، دا غريب خلك خولې تويوي او يو څو پيسې پيدا کوي خو ته هغه پيسې په نامردۍ کې ځني غلا کوې ولې دا کار کوې؟ بڼګ لا خبرې نه وې خلاصې کړې چې راغلي سړي په عذر شروع وکړه او په پرله پسې زاريو يې عذر وغوښت، دوکاندار چې دا حال وليدی نو د حبيب الله ماما څخه يې د دې سړي د عذر منل وغوښتل، حبيب الله ماما وويل چې په يو ډول د ده غذر منم هغه دا چې دی توبه وباسي او بيا هيڅکله دې بې ننګه کار ته زړه ښه نه کړي، د همدې خبرې سره سم راغلی سړی په توبو سو او وې ويل چې زما توبه ده بيا به هيڅ وخت داسې بد کار ونه کړم، بنګ په پای کې ورته وويل چې ځه ورك سه چې دا تور مخ دې بيا و نه وينم، سړی چې له دروازې وتی د خپله جېبه يې نه سوه روپۍ راوايستې او دوکاندار ته يې ورکړې او وې ويل چې سل روپۍ مې بايللي او نور دا دې سته که غواړې چې را يې وړم نو د خوارۍ غريبۍ تر پيدا کېدو راته وګورئ د خدای په امان.

مامد شاه خان چې د صوفي مادريم له خوا د پيل سوي کيسې لنډول غوښتل نو ږغ يې وکړ چې ګورئ د حبيب الله ماما امر پر ټول ښار چلېږي هر څوك د بنګ عزت او مراعات کوي، د کندهار په ښار کې د بنګ امر لکه د فرقې د قومندان امر داسې چليږي په دې وخت کې استاد مد انور د مامد شاه خان خبرې ته پيوند ورکړ او وې ويل ما خو تر اوسه د بنګ سره نه خبرې کړې او نه مې ليدلی دی خو دا چې په رښتيا د کندهار ښه ځوان دی او ټوله يې مني که زه هم د هغه امر واورم خامخا به يې منم او که مې په بل چا زور ورسيږي هغه به هم خامخا مجبور کړم چې د حبيب الله ماما امر ته غاړه کښېږدي، او که پوه سم چې غاړه نهږدي نو خامخا به يې تر څټ نيسم او هغه ته به يې ورولم، مامد شاه خان د استاد مد انور خبره ونيوله او وې ويل چې هو هغه کيسه چې ما غوښتل تاسي ته يې وکړم را په ياد سوه راځئ چې اوس د ماښام لمونځ وکړو او بيا به سبا ان شاالله دا کيسه درته وکړم.

د سبا ورځې ماڅګيګر ته د ځوانانو زياته تلوسه وه د ورځې کارونه يې په دې نيت چې نن ماځيګر د مامد شاه خان څخه د حبيب الله ماما نوې کيسه اوري ټول په ډګير شوق او خوند سره خلاص کړل او ماځيګر بيا د دنګانو پيتاوي ته را ټول سول د دنګانو پر پيتاوي د يو شمېر ځوانانو شالۍ هم غوړېدلي پرتې وې، ټولو ځوانانو د مامد شاه خان د راتلو لاره څارله، يو وخت د برنډېو پر سر الله داد نورو ځوانانو ته ږغ کړ چې هغه دی مامد شاه خان راغی په دې ږغ ټولو ځوانانو خپل نيمګړي کارونه ژر ژر پوره کړل او د مامد شاه خان تر رارسېدو يې ځانونه له کاره بېغمه کړل،کله چې هغه راورسېدی ټولو په يوه ږغ وويل چې خانه نن به هغه کيسه نه هېروې هغه چې پرون دې وعده کړې وه، خان هم تر سلام او حال و احوال اخيستلو وروسته وويل چې هو نن به هغه کيسه کوم ما هم خپله وعده نه ده هېره کړې، خو نن پر دنګ د چا ورجي دي چې د شنو چايو تاوان هم ور دغاړې سي په دې وخت کې د صمد جان ورور وويل چې د چاي غم مه خورئ ما تياره چای جوشه پر اور ايښې ده تاسي خپل بانډار تودکی زه چای راوړم، مامد شاه خان چې دا بهانه هم ورکه وليدله نو د صوفي مادريم څنګ ته نژدې يې خپل پټو غبرګ واچاوه او دمجلس لپاره يې ځان تيار کړ اول يې ځوانان د هغو د کارونو په خاطر وستايل چې خير يوسئ چې کارونه مو خلاص کړيدي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه بیا مشران خوا بد وي او وايي به چي د کار در ك مو نسته او د ښه ځوانۍ خبري خو هر يو په قاف او لام کوي، دا دی زه نن هغه کیسه کوم چي ما په کندهار کي د غونډ مشر صیب په کور کي اورېدلې ده.

يوه ورځ زه د غونډ مشر صیب کورته تللی وم او هلته مي يو کندهاری وليدی چي په پخوا وختونو کي يې ډېري سختي ليدلي وې، د وهلو او ټکولو څخه بیا تر محبس او کوټه قلفۍ پوری د ښه ستر خانه بیا تر اوږدو مسافريو پوري د ملکي کارونو څخه بیا تر خواريو او مزدوريو پوري ټولي خانې تیري کړي وې، ويل چي يو وخت د سرپوزې د کلي نماينده و کور او دوکانونه يې درلودل يو وخت بيا د حکومت توري سو، بيا زندان ته تللی او له زندانه تر تښتېدو وروسته بیا د خپل کلي کور او بیا وروسته د کندهار د ښو ځوانانو سره په باندارونو کي شپې او ورځي تيري کړيدي، خير نو د دې سړي سره مي د غونډ مشر صیب په کور کي شناخت وسو هغه ډېر خوږ ژبی سړی و، زه پوه نه سوم چي د غونډ مشر صیب او هغه ملګر توب څنګه پیدا سوی و، خو غونډ مشرصیب هغه ته په ډېره درنه سترګه کتل هره د جمعې شپه به هغه د غونډ مشر صیب کورته راتلی او په هغه شپه به غونډ مشر صیب هم د شپې تر ډېره وخته مجلس کاوه.

يوه شپه يار ماد خان اکا (يار محمد خان) د روژې تر پېشلمي پوري داسي خوږ مجلس وکړ چي ټوله حيران پاته وو چي څنګه پېشلمي سو، يار محمد خان اکا د کندهار د بلوا خبري کولې هغه بلوا چي د کندهار ښار سېنما په کښې وسوځېده دوکانونه چور سول، ګاډيو او حکومتي موټرو ته اور واچول سو، او په کندهار کي زياتي خرابۍ وسوې نور يې څه کوې د حکومت او رعيت تر منځ تياره جګړه وه، يار ماد خان اکا دا کيسه داسي کوله ته به وايې چي همدا اوس هغه اړو دوړ روان دی،د کيسې په يوه برخه کي د حبيب الله ماما خبره هم رايادە سوه او ويل يې چي د کندهار د بلوا څه څو ورځي وروسته د کندهار امنيي قومندان د کندهار ځيني نامتو مشران لکه قدوس خان بارکزی صالح محمد خان پوپلزی او د کندهار سر زوره خلګ ونيول او بنديان يې کړل، خو د خان محمد خان په مشوره د ټولو مشرانو څخه بخښنه وغوښتل سوه او په دې ډول يې د بيا بغاوت د نه کولو ضمانت هم واخيستی او د کندهار ښار ټول مشران يې له بندي خانې څه ازاد کړل، خو په دې جمله کي يوازي حبيب الله ماما د نورو بنديانو څخه بيل سو او د سر مامور په امر د بنديخانې په يوه بله برخه کي پټ وساتل سو، نور ټول مشران او قومي سپين ږيري خپلو کورونو ته ورسېدل خو د حبيب الله ماما درك ورك سو د بنګ انډيوالان د نن او سبا به انتظار ناست وو خو حبيب الله ماما پسي ورك سو.

وايي چي په سر ماموريت کي د څلورو ورځو کوټه قلفيو وروسته دکندهار دسر مامور په امر د هغه و شعبې ته وروستل سو، په دې وخت کي دکندهار د امنيې قوماندانې او سرماموريت دواړه د يوه نفر په لاس کي وه چي په ظلم او زور يې په ډيرو خلګو کندهار خوشي کړی او يا يې د مات ږغ په کړی چي بيا د شرمه ښار ته نه دی راوتلی، زمان جان غېږ باز يې په پښو شل کی، په لالو ماما يې تر لښتو لاندې د مات ږغ وکی چي مجبوره سو کندهار خوشي کي، د بريت رحيم بريتونه يې په چور وشکول هغه هم د خپلو شونډو د بدرنګۍ په وجه د خپل کور بندي سو، او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر نور ځوانان يې هم ژړ مخي کړي وو او دا ځل د کندهار بنگ په لاس ورغلی وايي چي د څو ورځو کوټه قلفيو وروسته د سر مامور په امر حبيب الله ماما د هغه دفتر ته ور وستل سو کله چي حبيب الله ماما دفتر ته ننوت سمدستي اکبر خان سر مامور ږغ پر وکړ چي ته دکندهار لچك ما پر اسمان غوښتې ته خدای پر مځکه په لاس راکړې، ستا مي اورېدلي وه چي ځانته يو څه وايې زه خو دي اوس وينم لکه موږك په کالو کي پټ يې، اوس به دې لکه چرگ پرو بال وباسم او چيغي به دي په برو دروازه کي سماوار چيان کانه کي، په دې وخت کي حبيب الله ماما د دفتر د دروازې خواته حرکت وکړ چي اکبر خان بيا ور ږغ کړه چي چيري ځغلي تا خو تر وخت دمخه ځان خراب کړ حبيب الله ماما بيا هم دروازې ته نژدې سو او په ډېره چالاکي يې د دفتر دروازه د دننه د خوا وتړله او بيا يې اکبر خان ته وويل چي گوره بس زياتره زما په مردي کي خو کندهار شك نه لري ته چي شك لرې تاته يې بايد وښيم چي زه نر يم که ښځه، بيا يې لکه قهرېدلی زمری د اکبر خان د ميز پر خوا ور ټوپ کړه او تر څو چي اکبر خان ځان پيدا کاوه حبيب الله ماما بيا د ميز پر سر ورته ولاړ و او د اکبر خان په ستوني کي يې منگلي ښخي کړي وې، اکبر خان چي په خپل عمر د داسي صحنې سره نه و مخامخ سوی حيران پاته و چي دا څه پېښ دي، اکبر خان چي د حبيب الله ماما ځواب ته منتظر و د حملې اميد يې هيڅ نه کاوه، نو ځکه يې دځان د دفاع واك هم له لاسه ووت، خو هغه هم غښتلی افسر و اول يې د ميز شاته ځای خالي کړ او بيا يې د حبيب الله ماما سره د مقابلې تر څنگ د دروازې د خلاصولو هڅه وکړه، کله چي دروازه خلاصه سوه نو د دفتر حاضر باش په يوه ساه راغی او حبيب الله ماما يې د شا له خوا په غېږ کي ټينگ ونيو او د حاضر باش سره نور عسکر هم ملگري سول او حبيب الله ماما يې ځنځير پېچ او د اکبر خان په امر يې بيرته کوټه قلفۍ ته بوتی او ورته وې ويل چي هـر وخت ما وغوښت بيا يې را حاضر کړئ.

د دفتر حاضر باش او نورو محافظينو هم د خپل امر په امر حبيب الله بيا د کوټه قلفي په لور روان کړ په دې ټيل ما ټيل کي حبيب الله ماما د اکبر خان په خوا مخ واړا وه او وې ويل چي گوره نا ځوانه بيا د بل کندهاري په مخ کي د نر او ښځي خبره ونه کړې، زما خو لاس در و نه رسېدی که د بل چا په مخ کي داسي خبره درڅه را ووزي بيا به تر ياسينه ونه رسېږې، زما خبره دي ستا په ياد وي هير يې نه کړي بس زياتره، نور دي چي څه په وسه وي هغه وکړه.

حبيب الله ماما درې هفتې (اونۍ) پرله پسې په کوټه قلفي کي تيري کړې په يوه کوچنۍ کوټه کي چي لمر يې نه درلود او يوازي يې په ناستي د بيدېدو ځای درلودی، فقط يو سهار او بل سهار به يې د اودس تازه کولو لپاره دباندي را وتلو ته پرېښودی هغه چي به د ورځي په سهار اودس تازه کړ بيا به يې تر ماخستن پوري په هغه اوداسه لمونځ کاوه، حبيب الله ماما بېله دې چي کوم شکايت وکړي په خورا مردۍ يې شپې ورځي تېر ولې.

وايي چي درې هفتې تيري سوې خو حبيب الله ماما را مالوم نه سو د برو دروازې ځوانانو هره ورځ د يو او بل څخه پوښتنه کوله چي که څوك د حبيب الله ماما حال او احوال ولري، ورځي زياتي تيري سوي خو د حبيب الله ماما خبر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوم نه سو چي په پاي کي د برو دروازې یو څو تنو ځوانانو دي خوا او ها خوا پوښتني ګرویږني وکړې او په دې جریان کي درې هفتې تیري سوې، دربیمه هفته ښکاپر دروازې ته د حبیب الله ماما انډیوالان ورغلل او د لطیف جان چي بیا وروسته د (حاجي لطیف په نوم مشهور سو) سره یې د حبیب الله ماما د درو هفتو د یو مخ غیبېدو خبره وکړه لطیف جان په دې خبره اګاه و چي بنګ حبیب الله د دولت کسانو د کندهار د یو شمېر نورو مشرانو سره یو ځای نیولی و، خو کله چي د وطن نور مشران خوشي سول د هغه په خیال نو بنګ هم خوشي سوی دی، خو داسي نه وه سوې خان ماد خان د وطن نور مشران خوشي کړي خو د حبیب الله ماما په حال څوك نه دي خبر سوي چي هغه ته څه پېښ سویدي.

لطیف جان چي له حاله خبر سو نو بېله ځګندې یې خپله سدرۍ پر اوږو کړه او د بنګ انډیوالانو ته یې وویل چي یارانو تاسي ولاړ سئ زه نن تاسي ته د بنګ د حال او احوال خبر برو دروازې ته راوړم زه ولاړم د خدای په امان.

د بګنګ یاران د برو دروازې پر خوا ولاړل او په خورا بې صبرۍ سره یې د لطیف جان لاره څارله، د ماځیګر د لمانځه وخت و چي د برو دروازې په چوك کي د بنګ یارانو لطیف جان ولیدی او یو تن په ځغاسته د لطیف جان خواته راغی اوهغه ته یې د بنګ د یارانو د ناستي ځای ور وښودی، لطیف جان هم هغه سماوار ته راغی اود حبیب الله ماما انډیوالانو ته یې د خپل کار جریان ووایه، او هغه یې خبر کړل چي بنګ د سر مامور په خاص امر کوټه قلفه دی، او دا یې هم ورته وویل چي تاسي غم مه کوئ زه یې سبا ته غم خورم یا به را خلاص سي او یا به زه هم هلته ورسره کښېنم .

د بنګ انډیوالان له یوې خوا بېغمه سول چي د هغه درك معلوم سو خو له بلې خوا یې اندیښنې نوري هم زیاتي سوې چي حبیب الله ماما یوه ډېر ظالم قومندان ته په لاس ورغلی دی، خو خیر دي وي که یوه لاره پیدا سي چي را خلاص سي او بیا د یارانو مجلس په رنګین او خوندور سي.

وایي چي لطیف جان د کور پر خوا ولاړی او د حبیب الله ماما یاران په سما وار کي د چورتونو ټالو واخیستل، په دې وخت کي د مرجې صمد کاکو پر نورو یارانو رږغ وکړ او وې ویل چي یارانو لار په مزله لنډیږي د کندهار بنګ په سر ماموریت کي پروت دی او موږ لکه د ډیلي سوالګر چورتونه وهو په دې چورتونو دا لار نه لنډیږي، په دې وخت کي د مناري فیض الله وویل چي کاکو رښتیا وایي څه بندوبست دي په خیال راغی چي پر ورځو به، صمد کاکو بیا وویل چي زه خو وایم چي دا سر ماموریت خو دونه لیري نه دی راځ چي ورسو که پولیسو زموږ بنګ خوشي کړ خو ښه خبره ده او که نه بیا به نو د زوره کار واخلو او نا چاره یو چي مابس (محبس) به ماتوو، بیا که حکومت موږ وژلو او که یې بندیانولو هغه به بیا هغه وخت سره ګورو، څنګه یارانو بله خبره هم سته او که نه؟ په دې وخت کي معلم راز مامد (راز محمد) وویل چي وایي چي وخت لکه سره زر زما په خیال دا اوس ښه وخت دی چي سرماموریت ته ورسو اول به د سر مامور عذر وکو او په دې وخت کي ور تلل به د هغو غرور پر ځای کي او په دې ترتیب به زموږ کار هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه ورکړي، خو که یې ونه منل بیا به موږ خپل کار وکړو او بیا به مو نور کندهاریان نه ملامتوي چي پرون هغه پېښه وه او نن بیا تاسي دا را پېښګه کړه، او بله خبره هم دا ده چي دا اوس چي موږ او تاسي ور ورسېږو تر هغو به ماښام وي که کش او کوك جوړ سو نو بیا به نورو خلکو ته تکلیف نه وي یوازي موږ او سر ماموریت به سره کښېوزو، د معلم راز مامد خبري لا نه وې خلاصي سوي چي صمد کاکو ږغ وکړ چي ښه خبره ده نو یا الله او بسم الله.

په سماوار کي ناست کسان ځوانان ټول را ولاړ سول په دې وخت کي غوڅو کاکړ وویل چي یارانو وایي چي د پیشي په غېږ ورځې نو تهیه به د زمري نیسې څوك چي وسله لري نو را وادې خلي چي هر چا چي څه درلوده هغه یې له ځانه سره را واخیستله او ټول دوه دوه سول او د یو بل تر شاه پرله پسې روان سول، وایي چي غوڅو کاکړ د ځوانانو د سر دوو نفرو ته ور چټك سو او هغه یې ودرول او ورته ویې ویل چي ګورئ یارانو دې خبري ته باید په یوه خوله سو هغه دا چي که یې خبره ومنله خو ښه کار دی د خپل یار سره به یو ځای برو دروزاې ته راځو او که خبره غږکه سوه نو داسي نه سي چي ټول پر یوه عسکر را واچوو او بیا نور عسکر راسي موږ لکه د ماښېین چګرګان یو یو تر پښې ونیسي او د حبیب الله ماما سره مو پښه په پښه کي، بیا به مو نو د خامې ناري تر ښار او کلي خپرې سي او د کلي کشر او مشر به راباندي خاندي او وایي به چي دا ګوره بنګ خو یې راخلاص نه کی چي نه کی، لایې نور هم بار ور دروند کی په دې وخت کي وروسته پاته یاران هم دوه دوه را ورسېدل او ودرېدل نو د پیر پایمال عزیز جان و غوڅو کاکړ ته وویل چي وایه غوڅو یاره د پای خبره دي وکه، غوڅو بیا خبره واخیسته او وې ویل چي زه وایم که خبره ونه منل سوه نو هر یو دي خپل ځان د یوه عسکر خواته نژدې کي او چي معلم یار د یا الله ږغ وکړي بیا نو هر څوك پوه سه او د هغه عسکر انډیوال ټولو وویل چي ښه خبره ده هو معلم راز مامد ږغ وکی چي ګورئ یارانو هر یو دي د ځان سیال عسکر وګوري او هغه ته دي ودرېږي، د بنګ یاران بیا دوه دوه سول او د محبس پر خوا یې حرکت وکړ.

د ماځیګر او ماښام تر منځ وخت و چي د بنګ یاران سرماموریت ته ورسېدل او هلته ولاړ پیردار ته معلم ور نژدې سو او پوښتنه یې وکړه چي وروره نوکریوال څوك دی؟ عسکر وویل چي قومندان اعاشه نن نوکریوال دی. معلم بیا پوښتنه وکړه چي د نوکریوالۍ دفتر چیري دی؟ عسکر جواب ورکړ چي خیر دی د نوکریوالۍ له فتر سره مو څه کار دي؟ معلم ورته وویل چي موږ د بنګ یاران یو د نوکریوال صاحب سره ګورو، عسکر وویل چي تاسي دلته ودرېږئ زه به ورسم چي نوکریوال صاحب تاسي غواړي اوکه یا هو زه هغه ته څه ووایم چي څوك راغلي دي؟ د یارانو څخه یوه ږغ کړ ورته وویه چي دسرپوزې جبار خان او دبنګ نور یاران دي، وایي چي عسکر ولاړی او نوکریوال ته یې دا خبر ورساوه، نوکریوال چي حسن خان نومېدی ژر یې عمومي قومندان اکبر خان ته تیلفوني خبر ورکړ او د هغه څخه یې هدایت وغوښتی چي څه وکړي اکبر خان چي د کندهار د ځوانانو په راتګ خبر سو نو یې ورته وویل چي ټوله راغلي خلګ وساته او ورته ووایه چي زه اوس خبرو ته راځم.

عسکر همدا خبره همداسي راغلو ځوانانو ته وکړه چي نوکریوال صاحب د امنیې قومندان سره خبري وکړي او هغه وویل چي زه اوس راځم تاسي ولاړ سئ په انتظار خانه کي کښېنئ، غوڅو کاکړ یارانو ته مخ واړاوه او وې ویل چي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يارانو معلم او جبار خان دي ولاړ سي نور ياران به دلې ته شا او خوا ګرځو تر څو چي خبره ښکاره کيږي، ټولو خوښه کړه او دوه تنه انتظار خانې ته ولاړل او نور د سر ماموريت پر شا او خوا منتظر ولاړ وو، د يوه نيم ساعت وروسته د قومندان مګوټړ راغی او سر ماموريت ته ننوت، ياران بيرته راټول او دوه دوه سر ماموريت ته ننوتل او له وعدې سره برابر هر يوه خپل ځاي پيدا کړ، په دې وخت کي اکبر خان د معلم راز ماد سره خبري کولې چي له دفتر څخه د خندا اواز راووت نورو يارانو داسي خيال وکړ چي خبره حل سوه نو هغو هم د يو او بل سره لاس ورکړ او د بري په ډول يې يو او بل ته وخندل. يو ګړی وروسته د قومندان له دفتره معلم او جبار خان راووتل او پر صمد کاکو يې ږغ وکړ چي کاکو ته راسه موږ ته خو يې يوه بنده واچول ستا خيال څه دی، ياران راټول سول او خبري ته يې غوږ ونيوی معلم کيسه وکړه چي اکبر خان وايي چي بنګ زما په لاس راغلی دی زه يې په يوه شرط پريږدم چي هغه له دوو شيانو توبه وباسي يوه دا چي پر خپل سر چاته جزا ور نه کړي او بل دا چي نور دي ځان ته بنګ نه وايي، او قومندان وايي چي که دا خبره ونه مني نو اول خو به يې زه تر وهلو لاندي مات کړم او بيا به يې لکه خيرو او ملا غفار په يوه تهمت و ځړوم، غوڅو وويل چي زه خو وايم يارانو دا يوه خبره هم بګنګ ته د منلو نه ده معلم دي دا ځل بيا ورسي او ورته ودي وايي چي که يې خوشي کوې خو ښه او که يې نه منل نو بيا دي جبار خان يو درونډ ټوخ وکي بيا نو هغه حال او هغه جال.

معلم راز ماد او جبار بيا دفتر ته ننوتل او تر سلام وروسته معلم قومندان وويل چي قومندان صاحب دا دی موږ بيرته د يوې مشورې دپاره راغلو، ته خو د پاچا قومندان يې نن دلته او سبا هلته خو موږ د همدې ښار او کلي خلګ يو يا به مرو او يا به اوسو موږ د باندي د يارانو سره ستا خبره وکړه خو ټولو ته دا خبره نا شونې ښکاره سوه، اول خو بنګ زموږ د ښار د غيرت او ميړانې تاج دی او بل هغه ته خلګ بنګ وايي اوس که څوك هغه ته ووايي چي ته ځان ته بنګ مه وايه هغه يې نه مني بيا چي خبره زور ته سي خو بيخي يې نه مني، نو موږ فيصله وکړه چي د بنګ دپاره چي هره جزا تا په زړه کي نيولې ده هغه جزا ماته راکړه خو هغه خوشي کړه، اکبر خان چي د بنګ خبرو سودايي کړی و د معلم راز ماد خبرو بيخي په غضب کړ او بيا يې جبار خان ته مخ واړاوه چي ښه جبار خانه ته څه وايې، معلم او بنګ خو زما سره پاته سول زه به د دوی سره جوړ سم، جبار خان په دې وخت کي معلم ته ځان نژدې کی او په غوږ کي يې ورته وويل چي معلمه زويه چالاکي به نه کوې چي زه يم نو تاته صبر دی، او بيا يې وويل چي قومندان صاحب زموږ د يارانو په منځ کي خو ټول ياران داسي پرله پسې خبري نه سي کولاي لکه معلم چي يې کوي، دا چي معلم وويل هغه د يارانو فيصله ده نو تاسي خپل عسکر ته وواياست چي بنګ ته اجازه ورکړي چي خپل کورته ولاړ سي، تر هغه وروسته به معلم زموږ يارانو ته زيری ور کړي هغوی به هم خپلو کورو ته ولاړ سي زه ستا هري جزا ته حاضګر او اماده کښينم، نو اول کار ستاسو دی دوهم اجرات زموږ.

قومندان چي دا دواړه تر خپل حد تېر وګڼل نو يې ورته وويل چي ښه نو تاسي دواړه غواړئ د هغه پر ځای جزا ووينئ نو تاسي دواړه سر له اوسه زما بنديان ياست اول به زه تاسي ته وښيم چي د بل پر ځای جزا غوښتل څه مانا لري بيا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د هغه سره ګورم، جبار خان ورته وويل چي نه قومندان صاحب موږ دواړه نه يو زموږ يارانو يوازي زما فيصله کړې ده معلم نه دی، ته بنګ خوشي که زه دلته يم په عين حال کي يې و معلم ته وکتل او په کراره يې ورته وويل چي که په خبره پوهېږې نوهمدا ده څه ولاړ سه او يارانو ته ووايه چي زما او قومندان صاحب تر منځ فيصله وسوه هغه بنګ خوشي کوي او زه يوه دوي ورځي په ضمانت ناست يم خو ګوره چي دا خبره بل ځای او يا د نورو يارانو سره وه نه کړې که ما واورېدل نو دا به ستا لويه نامردي وي، څه ورسه او يارانو ته ووايه چي خبره حل سوه، معلم لا خبري نه وې شروع کړي چي قومندان ور برغ کړه او ورته وې ويل چي ورسه يارانو ته دي چي هر څه وايې ووايه خو ته به نه تښتې زه چي ستاسي ياغي ښکي ونه باسم نه مو پرېږدم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بنگ حبیب الله(دوهمه برخه)

د جبار خان په وینا معلم له دفتره راووت او یارانو ته یې وویل چې یارانو خبره خلاصه سول، زه او جبار خان دلته یو، تاسې ولاړ سئ قومندان صاحب وویل چې زه حبیب الله ماما خوشې کوم ماته جبار خان وویل چې تاسې ته خبر در کړم چې تاسې ولاړ سئ، بیا صمد کاکو وویل چې بنگ به نو کله راخلاص کې؟ معلم چې د روان حال بیان نه سو کولای نو یې ځان ناګمانه واچاوه او ویې ویل چې ګورئ یارانو دا چې هغه څه وخت خلاصیږي څه یې کوئ اوس زه او جبار خان دواړه د ضامن په رقم ناست یو قومندان وویل چې بنګ خوشې کوي اوس تاسې ولاړ سئ بیا به موږ خبر دروړو چې خبره څنګه سوه اوس تاسې ولاړ سئ. د بنګ نور یاران د معلم او جبار خان په خبره د سر ماموریت څخه ولاړل او جبار او معلم راز ماد دواړه د قومندان په دفتر کې پاته سول.

قومندان چې له یوې خوا پر بنګ په غضب و له بلې خوا د بنګ له داسې اندېوالانو سره مخ سو چې هر یوه یې تر بل تیري کوي قومندان هم د دفتر نوکریوال ته امر وکړ چې شکور چپه دست راولي، شکور چپه دست راغی او هغه پوهېدی چې په دې وخت کې یې قومندان د څه دپاره غواړي، نو د خپل راتګ سره یو ځای یې یو بار د انارو لښتې له ځانه سره راوړې او حاضګر سو، قومندان امر وکړ چې شکوره بچو، دوی ضرب خانې ته که، هر وخت چې په ژړا یې ستا زړه وسوځېدی بیا نو ما په خبر کړه، تر هغه یې ډبوه چې کالې یې لانده او ژړ سي.

شکور چپه دست هم دا څو هفتې وهل نه وه کړي نو اول خو منتظر و چې پر بنګ به زړه خالي کې، خو تر بنګ دمخه د هغه د یارانو سره مخ سو اول یې جبار خان او معلم سره بېل کړل یو یې یوې کوټې ته او بل یې بلې کوټې ته بوتلی او هلته یې د دواړو سدرۍ او لنګوټې ځنې خلاصې کړلې او په یوه یوه جوړه نازکو کالو سره یې په نوبت کړل، اول یې راز مامد معلم د وهلو هغه مخصوص دهلېز ته را وست چې هلته قومندان او نوکریوال دواړو خپلې چوکۍ ایښې وې، کله چې معلم یې راوست نو قومندان و معلم ته وویل چې دا اوس لا سر، وخت دی کولای سې چې خپله خبره واخلې او ځان له وهلو څخه بېغمه کړې او که مې یو ځل د عسکر لاس دربانډې پورته سو بیا دې په توبه هم نه پرېږدم، معلم په ډېرې ارامۍ سره جواب ورکړ چې، قومندان صاحب زه پر خپله وعده ولاړ یم خو ته هم باید پر خپله وعده ودرېږې، او یو بل خواهش مې دا دی چې جبار خان په عمر پوخ سړی دی زه غواړم چې د بنګ او جبار خان د دواړو جزا ګانې ماته راکړې. قومندان چې معلم لا تېز ولیدی نو یې و شکور چپه دست ته امر وکړ چې شکوره بچو، را چپه یې کړه او داسې غر غړې په وکړه چې د کندهار لوی او کوچنې یې ټوله واورې.

معلم د قومندان د امر سره سم دوو عسکرو د شا پر تخته پرېیست او پښې یې په رسۍ ور وتړلې او وهل شروع سول د انار غبرګې لښتې په توبت د دوو خواو پر پښوو داسې په شرق لګېدلې ته به وایې چې پر ختو مښلې، قومندان په دې انتظار دی چې اوس به د معلم ږغ پورته سي، او اوس به یې ږغ پورته سي، خو لښتې یو په بل پسې ماتېدلې ولې د معلم ږغ نسته، ښه ډېر وخت وروسته نوکریوال ولاړ سو او د شکور چپه دست خواته ورغی او پوښتنه یې ځنې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چي هلکه تاسي دا معلم وهئ خو د هغه ږغ نسته تاسي یې وګورئ هغه به ښسده وي خو پخوا تر دې چي شکور جواب ورکړي معلم ږغ پر وکړ چي نوکریوال صاحب ستا په دې څلورویشت ساعته نوکري کي خو نه ښسده کېږم ته ښغمه خپلي شنې او توري چښه، نوکریوال د قومندان خواته وکتل چي ګویا چي نوې خبره یې اورېدلې ده خو قومندان ورته وویل چي راځه نوکریوال صاحب تا یې ډېر وختي احوال واخیستی دا خو کندهاریان دي عادي ځوانان یې لا په دومره وهلو ږغ نه کوي دا خو لا ځان ته یو څه وایې راځه کښېنه که دي سطرنج ته زړه کېږي نو را وایې خله، خو راز ماد دي په دې خبره پوه وي چي نن د هغه ژړا په ټول کندهار وانه ورم نیې پرېږدم.

نوکریول چي د اول ځل له پاره د داسي حالت سره مخامخ سوي و، نو یې دا ښه وګڼل چي په سطرنج ځان اخته کړي نو یې د نوکریوال له دفتر څخه د سطرنج تخته را واخیسته او د قومندان مخ ته یې کښېښوله، قومندان هم یو کوچګنی میز را کش کړ او د سطرنج بازي یې د نوکریوال سره پیل کړه، د نوکریوال د تلوار خلاف د قومندان له خوا بازي دېره په کرارۍ سره روانه ده، یو وخت چي قومندان نوکریوال ته د کشت ږغ وکړ نو نوکریوال ښېله دې چي بازي اوږده کړي وې ویل چي زه مات یم،قومندات وویل چي هو زما سره څوك بازي نه سي کولای ما ډېر مات کړي دي، په دې وخت کي شکور چپه دست را نژدې سو او وې ویل چي نوکریوال صاحب ته خو باید مات ومنې د قومندان صاحب سره چي څوك مخ سوي حتماً مات سوي دي، وایي چي قومندان د خپل عسکر خبره نیمه کړه او وې ویل چي ته خبري مه کوه ته ورسه وګوره چي هغه بل هم مات دی که نه او کالي یې هم وګوره چي لانده او ژړ دي که نه، عسکر د معلم پر خوا روان سو هلته چي دوه نور عسکر هغه تر لښتو لاندي نیولی و، خو د عسکره سره یو ځای نوکریوال هم ور ولاړ سو کله چي معلم ته ور نژدې سو نو نوکریوال تر عسکر دمخه ږغ وکړ چي قومندان صاحب د سړي خو د ماتي ږغ نه سته چي نه سته خو کالې یې هم ژړ نه بلکي په وینو سره دي، زه خو وایم قومندان صاحب دا سړی خوشي که، نور یې مه وهه چي تر اوسه یې ستا په خوښه څه ونه ویل له دې وروسته هم خیال نه کوم چي ستا په خوښه دي خبري وکړي، او بله دا چي زه خو نه پوهېږم چي ګناه یې څه ده، دوی خو په خپله راغلي وو موږ خو په کومه ګناه نه دي نیولي، که هغه بل سړي کومه ګناه ولري خو هغه ته باید جزا ورکول سي، معلم چي دا خبري واورېدې نو یې د خپلي لنګوټې شمله له خپله مخه لیري کړه او تر هم هاغه وهلو لاندي یې پر نوکریوال ږغ وکړ، او وې ویل چي نوکریوال صاحب ته زموږ په کار کار مه لره ما د قومندان صاحب سره وعده کړې زه هغه وعده پر ځای کوم، که ته زموږ په منځ کي خبره تا او بالا کې نو به بیا زموږ تر منځ د پښتنو وعده ماته سي زه خو به یې هېڅ وخت ماته نه کړم خو ښېره مې له دې ده چي قومندان صاحب ته به بانه پیدا سي او تله به تېره کي او خپله وعده به پرېږدي، نو زه غوارم چي ته زموږ په منځ کي څه ونه وایې پرېږده چي موږ خپلي وعدې پر ځای کو، په دې وخت کي شکور چپه دست د قومندان غوږ ته ځان نژدې کړ او ورته وې ویل چي قومندان صاحب یو خو دا نوکریوال چندان زړه نه لري او بله خبره خو دا ده چي موږ اوس یو ناحقه سړی را چپه کړی دی، معلم به پرېږدو سبا به د دوي مشر بنګ ته خپل زور وښیو، که مو په هغه ږغ وکړ نو د هغه ټوله ډله ګویا ماته ده، قومندان چي د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکور په ستړیا پوه سو نو یې وویل چې هلکانو بس دی نور یې مه وهئ بیا به سبا ته سره ګورو اوس یې پر پښو اوبه واچوئ چې ویني یې ودرېږي، قومندان ولاړی او معلم یې کوټې ته یووړی.

سبا ورځ قومندان تر خپل وخت دمخه وظیفې ته راغی او په سهار وختي یې نوکریوال رخصت کړ او د قومندانۍ چاري یې خپله واخیستې، اول یې د قومندانۍ شا او خوا وکتل چې کومه بده ورانه نه وي پېښه سوې، بیا یې خپل حاضر باش ته امر وکړ چې اول هغه دوه تنه خوشي کړي او حبیب الله راولي او شکور ته هم وواياست چې د خپلو انډیوالانو سره یو ځاي راسي، قومندان چې کله خپل دفتر ته ورسېدی ورسره سم یې امرونه هم اجرا سوې وو، د یوې خوا حبیب الله ماما راوستل سو او له بلې خوا شکور او د هغه په لښتو بار انډیوالان دفتر ته یو ځاي سره ورسېدل، حاضر باش اول شکور او د هغه انډیوالان دفتر ته پرېښودل او بیا یې حبیب الله ماما دفتر ته راوست، قومندان چې لا پخوا حبیب الله ماما ته درد من و، نو ځان یې پوه نه کړ چې ګویا راغلی سړی یې ونه پېژندی په لوړ اواز یې پوښتنه وکړه چې نوم دي و وایه څوك او څه عرض لرې؟ حاضر باش یې ژر جواب ورکړ چې قومندان صاحب دا هغه حبیب الله دی چې تاسي وغوښتی قومندان په غضبي خندا وویل چې تا ته نه وایم دي بل ټګمار ته وایم، ووایه چې نوم دي څه دی؟ حبیب الله ماما په ډېره کراري سره وویل چې زه بنګ یم بس زیاتره د کندهار بنګ، قومندان ته دا خبره تیلو ته اور اچول سوه او مخ یې داسي سور سو چې ته به وایې چې سور رنګ دي پر اچولی دی، په غضب د خپلي چوکۍ څخه را والاړ سو او حاضر باش ته یې امر وکړ او وې ویل چې دا سپین سترګی تر لښتو لاندي واچوئ تر هغو یې ووهئ چې د خپل نوم سره یو ځاي یې د خپل پلار او مور نومونه هم له یاده ووزي، حاضر باش هم له امر سره سم حبیب الله ماما د وهلو مخصوصي کوټې ته بوت او د حبیب الله ماما سره یو ځای شکور چپه دست هم د خپلو انډیوالانو سره را ورسېدی، شکور چې د حبیب الله ماما حاضر جوابي واورېده نو ډېر یې تلوار سو چې د حبیب الله ماما د ماتي خبر خپل قومندان ته ورسوي او حبیب الله ماما یې د دواړو خواوو داسي تر لښتو لاندي واچاوه لکه خپل مدعي، له دوو خواوو دوه تنه عسکر ولاړ دي او شکور چپه دست له یوې او بلې خوا پر راګرځي او کله یې پر یوې خوا او کله یې پر بلې خوا په لغتو وهي داسي لټه پېر یې پر حبیب الله ماما جوړ کړ چې خدای دي یې پر هیچا نه راجوړ وي خیر خو د وهلو شرق او شروق داسي تود و چې عسکرو او حاضر باش ټولو داسي ګڼل چې اوس به حبیب الله ماما برغ وکړي چې بس دی او س به برغ وکړي خو په دې وهلو او ډبولو کي عسکر دواړه داسي ستړي سول چې نور یې نفس په اوږو شړی او په لاسونو کي یې هغه زور نه و چې په اول کي یې درلود، شکور چې دا حالت ولیدی نو یې ژر په خپله لښتو ته حمله کړه او په وهلو یې شروع وکړه، شکور چې یوه نوې غېږ لښتي خپل ځان ته نژدې کښېښوولې نو یې پر حبیب الله ماما برغ وکړ چې بچو اوس دي ځان ټینګ کړه هر چا چې اکبر خان ته د ماتي برغ کړی هغو زما د لښتو په زور کړی دی، اوس نو ځان ټینګ کړه، حبیب الله ماما د خپل مخه خپله شمله پورته کړه او ورته وې ویل چې شکور ماما که دي زما د ماتي برغ واورېدی نو بیا به مي مخ هم و نه وینې او که مي برغ ونه کړ نو خامخا به مي د خپلي کورنۍ په غلامي منې، شکور چې د دې خبري په خیال نه و، نو یې د څنګ عسکر ته وویل چې یوه بله غېږه لښتي هم را نژدې کړه او بیا و قومندان صاحب ته و وایه چې زما دي په ذات اقدس قسم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چي يا يې ژړا او چيغي تر چارسو ونه رسوم او يا يې هډوکي په پوست کي ميچن نه کړم که يې پرېږدم، او دا هم ورته ووايه چي تا خو يې د مور او پلار نومونه په هېرول ورته و وايه چي زه به له ده څخه د نيکه نوم هم هېر کړم، عسکر ته چي د چپه دست غضب معلوم و نو پوه سو چي نور نو يا حبيب الله ماما نسته او يا به که ژوندی پاته سو هغه به نو د سرماموريته ژړا او واويلا د هغه وتل وي بله لاره نه سته، نو اول يې حبيب الله ماما ته سر ورکښته کړ او ورته وې ويل چي وروره دا چي اوس يې لښتي را واخيستې دا شکور خان چپه دست دی ته يې پېژنې که نه؟ ښه به دا وي چي همدا اوس عذر وغواړې چي معيوبه نه سې او که نه په وهلو به هم د پښو او ملا معيوب سې او هم به په اخير کي ژړا او واويلا کوې چي بيا به گټه نه لري، حبيب الله ماما بيا د خپل مخه شمله پورته کړه او عسکر ته يې وويل چي عسکره وروره ته ولاړ سه د شکور خان ماما خبره قومندان ته وکړه خو دا هم ورته ووايه چي بنگ او شکور خان هم يو شرط تړلی دی، که خدای کول بنگ به د کور او اور خاوند سي خسر او خسرگنۍ به پيدا کړي، او بيا يې په خندا عسکر ته وويل چي، عسکره وروره ته به هم بيا زما واده ته راځې بس زياتره خامخا به راځې او که زما په ياد سول خامخا دي بس زياتره راغواړم، عسکر چي د شکور چپه دست په غضب پوهېدی نو بېله دې چي څه ووايي له کوټې ووتی او مخ د قومندان پر خوا روان سو، خير چي قومندان ته ورسېد نو تر سلام ادا کولو وروسته يې وويل چي قومندان صاحب دا سړی داسي نه دی لکه نور دا بل ډول سړی دی چي هر څه يې وهې نه خبرېږي ته به وايې چي بنگ نه دی مځکه ده، زه او جليل خو ستړي سولو اوس د چپه دست نوبت دی او هغه ته يې هم داسي خبره وکړه چي اوس ډېر ورته په غضب دی، د هغه دي خدای خير پېښ کي چپه دست به يې يا مات کي او يا شوټ، ماته يې وويل چي زه هم دا خبره تاسي ته ورسوم.

اکبر خان چي د عسکر خبري واورېدلې غضب يې نور هم زيات سو او دا ځل پخپله د حبيب الله ماما د وهلو ليدلو ته ورغی، هلته يې وليدل چي پر حبيب الله ماما داسي د انار لښتي يو په بل پسي اورېږي ته به وايې چي د منگي لپاره ختې پخوي قومندان يو گړی ودرېد او بيا يې و شکور ته وويل چي شکوره زويه څه دي وکړه نوم دي ځني هېرکړکه نه؟ ته يې پرېږده چي زه پوښتنه ځني وکړم، بيا يې پوښتنه وکړه چي هلکه نوم دي هېر دی که نه؟ حبيب الله ماما د خپل عادت په ډول بيا شمله دمخه ليري کړه او د يوي نرمي خندا سره يې ورته وويل چي زه هغه يم چي په دفتر کي مي درته وويل. زه بنگ يم، بس زياتره د کندهار بنگ، وادي ورېدل که نه؟ قومندان چي لا يې پخوانی غضب نه وو ارام سوی لا نور غضبي سو او پر شکور يې امر وکړ چي تر هغو يې ووهه چي توبي يې تر ما راورسيږي.

قومندان ولاړ او په دواړو لاسو ستړی شکور د حبيب الله ماما سره پاته سو، د قومندان تر وتلو وروسته شکور بيا هم څو لښتي پر ماتي کړې او نور نو داسي ستړی و لکه د بگۍ اس، ساه يې په اوږو شړله، د يو څه ارامي لپاره د ديوال يوه اړخ ته ودرېد په دې بانه چي گويا ستړی نه دی يوازي غواړي چي پوښتنه وکړي نو يې پر بنگ برغ وکړ چي، تر اوسه خو دي ځان ټينگ کړ خو زه دي نه پرېږدم چي يا دي مات نه کړم او يا دي شوټ، تر هغه وخته دي نه پرېږدم، اوس لا د کور نښاني راته ووايه که بيا پر خپلو پښو نه سوي تللای چي عسکر دي ورسوي؟ حبيب الله ماما

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښه مینه ورته وویل چي شکور خان ماما شرط هېر نه کړې که دي د عسکر په لاس ورکولم هم خپل د کور نښاني ورته ووایه، شکور چپه دست چي دا خبره واورېدله بیا په غضب سو او دا ځل یې هغه شلاخه (شلاق) را واخیستله چي هم درنه وه او هم په ګل مېخیو پټه، دا ځل یې نه سر ګوري او نه پښې پر هر ځای چي شلاخه برابره سي هغه ځای داسي تغمه سي ته به وایې چي تر پوست لاندي یې تور ټوکر پېچلی خیر په دې وخت کي د سرمامور دفتر ته لطیف جان را ورسېد، او د سرمامور سره یې د بنګ خبره یاده کړه، سر مامور چي د یو غښتلي ځوان سره خپله ناحقه بنده خلاصول غوښتل نو یې د لطیف جان خبرو ته ښه غوږ ونیاوه او هغه یې اورېدلې چي شکور چپه دست دفتر ته راغی او ښېله فکره یې وویل چي قومندان صاحب دا سړی زما څخه مرکیږي که مړ سو نو بیا زه نه یم مسول، هغه چي هر څه وهم لاري ته نه راځي یا اجازه راکړه چي تر پایه یې ورسره ووهم او یا بل چاته وظیفه ورکړه زه خو نور د دې سخت سړي سره په تنګ سوم، په دې وخت کي قومندان چي د حل یوې لاري ته اړ سوی و نو یې لطیف جان ته مخ واړا وه او وې ویل چي لطیف جانه دا عسکر د هغه د لاسه شکایت کوي چي ته یې عذر ته راغلی یې هغه حبیب الله درته یادوم، ته ورسه او ورته ووایه چي سم تحقیق راکړي او خپل ځان د جنجاله خلاص کړي، لطیف جان چي د قومندان خبره واورېده نو یې وویل چي ښه دی زه دا اوس ورځم او د هغه سره خبري کوم چي تحقیق در کړي، دا خبره خو په ده پوري اړه نه لري هغه خو نه په بلوا کي و او نه یې د بلوا په کارونوکي کار سته هغه خو به تاسي پېژنئ چي د بلوا او ملوا سړی نه دی قومندان صاحب تاسي هغه خوشي نیولی دی هغه په خپل ټول ښار او شا او خوا کي نامتو ځوان دی، د همدې بنګ له برکته په برو دروازه او برو دروازه لا څه کوي په ټول ښار کي بد لاري په لار دي که دی نه وي ته به وګورې چي دا یو شمیر غل او غدو به پر دې خوارو او بیکسه خلکو څه توره شپه جوړه کړي، نه به د چا په جوب کي پیسي خوندي ووینې او نه به د چا په کور کي مال او منال، د همدې بنګ له برکته په ښار کي غل او غدو ځان نه سي پټولای، رښتیا ته به وایې چي دا خو زما ژاندارم دی چي امنیت یې راوستی دی خو داسي نه ده د ښار په کلي اوکوڅو کي ډېري داسي پیښي کیږي چي حکومت ته نه رسیږي هغه د ښار او کلي مشران او ښه ځوانان سره حل او فصل کوي، دا څو ورځې چي بنګ په برو دروازه کي نه معلومیږي د ښار هغه خوا ټوله تشه ده، یاران یې په ده پسي سرګردانه ګرځي او ملك و چغالانو ته خوشي سوی دی، اوس د برو دروازې د خلکو مشکلات دونه ډېر سوي چي تر چارسو یې خبري رارسیږي، خیر ووینې قومندان صاحب زه همدا اوس ورځم او هغه ته وایم چي تحقیق در کړي او هغه خپل جای او جایګیر ته ولاړ سي، لطیف جان دا خبري وکړې او ولاړ سو د شکور څخه یې پوښتنه وکړه چي بنګ چیري دی چي زه ورسم، په دې وخت کي شکور د قومندان خواته وکتل، خو لطیف جان ته یې ځواب ور نه کړ، لطیف جان بیا وویل چي عسکره تا ته وایم بنګ چیري دی راځه راته وښیه، په دې وخت کي قومندان وویل چي شکوره زویه ورسه ولاړ سه او هغه ورته وښیه.

شکور دمخه او لطیف جان په پسې چي دواړه هغه ځای ته ورسېدل چي حبیب الله ماما یې د وهلو لپاره بېولی و، هلته چي ګوري د بنګ تر پښو لاسو او د بدن تر نورو ځایونوویني جاري دي او بنګ لا هغسي یوه پښه پر بله داسي اړولې چي ګویا هیڅ خبره نه ده سوې، هماغه ډول یې پر خپل مخ د شملې ول اړولی پروت دی او په دې نیت چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وهلو بله دوره به شروع کیږي، لطیف جان چي دا حال ولید نو یې پر حبیب الله ماما ږغ وکړ چي بنګه وروره خیریت دی څه پېښه ده ولي دا حال، ته څه کوې نور ټوله مشران ولاړه خپلو کورو ته او ته دلته ناست یې دا خو ستا کار نه و او نه تا شروع کړی و نو تاته څه پېښ دي چي د بل په ګور ننه وزې را ولاړ سه او هغه خبري ورته وکړه چي تا لیدلي دي او بیا ځه په خپل کار او بار پسي، راځه را ولاړ سه، ما د بلوا ټوله خبري و قومندان صاحب ته وکړې او هغه هم په ټوله خبره پوه دی، خو د حکومت کارونه دي یو او دوې پوښتني به ستا څخه هم کوي، ته یوازي هغه ورتهووایه چي تا لیدلي دي او بس.

وایي چي حبیب الله ماما د لطیف جان خبري لنډې کړې او ورته وې ویل چي لطیف جانه وروره اول ستړی مه سې بس زیاتره دوهم دا پوښتنه کوم چي دلته څنګه راغلې خیریت خو و په ښار کي یاران ښه وه؟ په دې وخت کي لطیف جان پوه سو چي خبره د بلوا نه ده بنګ د بلي کومي خبري په تور قومندان کښېنولی دی بیا یې وویل چي هو په ښار کي یاران ټوله جوړ تیار دي یوازي ستا احوال معلوم نه و نو زه نن راغلم چي حال او احوال دي پیدا کړم، اوس راته ووایه چي څه پېښه ده او ستا فقره هغه د بلوا خبره ده او که بله څه خبره پېښه ده؟ حبیب الله ماما ورته وویل چي لطیف جانه وروره مه پسي ګرځه، بلوا ملوا خو تېره سوه خیر خو د ښار تر ټېل ماتېل وروسته یې دلته راوستلم او دوې ورځي وروسته قومندان وغوښتلم او راته وې ویل چي بنګ یې او که مات؟ که بنګ یې نو دي ځان ټینګ کړه او که مات یې نو بیا به ببر ببر نه ګرځې نو ما هم ورته وویل چي تر اوسه خو چا نه یم مات کړی نو ځکه خلك بنګ راته وایي، او که ته غواړې چي زما حال معلوم کړې نو ستا خوښه زه خو ځان ته بنګ وایم که دي مات کړم نو بیا به دا بنګ نوم زما نه وي او زه به هم ببر ببر نه ګرځم، اوس همدا خبره ده نور بس زیاتره کومه خبره نه سته، ته زما له خوا یارانو ته ووایه چي بنګ داسي بنګ نه دی چي یاران وشرموي زه که یار نه سوم بار کېږم خو نه، یا به مي قومندان ګټلی وی او یا به زه د سر ماموریته ژړي تلي وزم دا دوې لاري دي نور نو ته ولاړ سه او یارانو ته مي سلامونه ورسوه.

لطیف جان چي له حاله خبر سو بیا قومندان ته ورغی او هغه ته یې وویل چي قومندان صاحب زما خو خیال و چي د بټګ فقره بلوا ده نو ځکه زه ورغلم که داسي پوه سوی وای چي ستا او د بنګ تر منځ کش او کوك دی نو بیا زه میان ته نه راتلم اوس چي زه پوه سوم نو ستاسي په میان کار نه لرم تاسي پوهېږئ او زموږ د کندهار بنګ، خو یوه خبره مي واوره چي ته به پر کوم چغال مغال پېښ سوی یې چي درته ژړلي به یې وي په دې پوه سه چي دا بنګ دی او د کندهار بنګ چي پوست یې جلا کې ږغ به یې ستا تر غوږه ونه رسیږي نور نو ته پوهېږې او کار دي لطیف جان چي د دروزاې پر خوا رهي سو نو شکور چپه دست هم قومندان ته وویل چي قومندان صاحب دې سرې رښتیا خبره وکړه زه چي دا سخت سری وینم، د ماتي نه دی، مړ به سي خو ږغ به یې موږ وا نه ورو، قومندان چي یو په بل پسي د خپلي خوښي خلاف خبري اورېدلې نو یې وار په وار غضب زیاتېدی، د شکور د خبرو په لنډېدو یې حاضر باش ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر وکړ چي، داوده چيري يې؟ ولاړ سه شکور په کوټه کي قلف کړه او دوه نوي غښتلي عسکر و هغه لچك ته ودروه تر هغه يې ووهئ چي ژړا يې ټول ښار واوري ځه ولاړ سه او دکار د اجراتو راپور ژر راوړه.

وايي چي عسکر هم د امر مطابق اجرات وکړل او د څه ځنډ وروسته دفتر ته راغی او د راپور په ويلو يې قومندان خوشحاله کړه، هماغسي وسول دوو نوو او غښتلو عسکرو د حبيب الله ماما د وهلو په کار شروع وکړه دا چي د غرمې شا او خوا وه چي قومندان د خپلو امرونو د نتيجې لپاره راووت او حاضر باش ته يې امر وکړ چي داوده څنګه سول کارونه؟ هغه لچك ته مو جزا ورکړه که نه؟ حاضر باش په نا اميدۍ وويل چي هو قومندان صاحب هغه خو د هماغه وخته تر وهلو لاندي دی ما دوه نور عسکر هم وروستل چي که يوه جوړه ستړې سي نو بېله ځنډه دي هغه بله جوړه په وهلو شروع وکړي ،نو زه هم دا يو ساعت کيږي چي نه يم ورغلی.

وايي چي قومندان د هغې کوټې خوا ته روان سو چي هلته حبيب الله ماما تر وهلو لاندي دی، هلته چي ورسېدی نو چي ګوري حبيب الله ماما پړ مخي پروت دی او د ملا پر تخته دوه عسکر د دوو خواوو پر هغه د شلاخو ناتار جوړ کړيدی، داسي ناتار چي د هري شلاخي سره يو ځای د وينو څاڅکي پر ديوالونو پاشل کيږي قومندان چي دا حال وليدی نو يې عسکرو ته وويل چي نور يې بس کړئ چي زه څو پوښتني ځني وکړم بيا يې وويل چي هلکه پوښتنو ته مي سم جواب وايې او که لا نور هم په ځان غره يې؟ حبيب الله ماما چي عسکرو پر چپه مخ وهلو ته پري ايستلی و نو يې د يوي اوږي تر څنډه مخ راواړاوه او ورته وې ويل چي د بنګه څخه پوښتنه کوې او که د بل چا سره ګډ يې؟

قومندان ورته وويل چي اول خو دا جواب راکړه چي نوم دي هېر سو او که نه؟ بنګ بيا ورته وويل چي زما خو خپل نوم په ياد دی خو ستا هم بايد هېر نه سي چي زه بنګ يم او د کندهار بنګ، بيا قومندان امر وکړ چي دا لچك و اوبو ته واچوئ او بيا به زه ورسره ګورم.

قومندان بيرته د دفتر پر خوا روان سو او حبيب الله ماما يې د سر ماموريت حوض ته واچاوه او بيا يې بيرته کوټه قلفه کړ، قومندان چي دفتر ته راغی نو يې د شکور چپه دست پوښتنه وکړه او هغه يې را وغوښتی، هغه چي را ورسېدی نو يې ورته وويل: چي شکوره ستا همدومره جزا بس ده بله ورځ ستا څخه وا نه ورم چي دا څنګه دی او دا څنګه، هغه چي زه وايم هغسي بايد وسي که ما ويل چي وهه يې نو ته بايد د هغه پوست وباسې او که ما وويل چي پوست يې وباسه نو ته بايد د هغه د مرګ فيصله وکړې، بيا زه پوهېږم او د هغې خبري مسؤليت پوه سوې او که نه؟ شکور چي په سنګدلي کي نوم درلود نو دا خبري يې د ځان دپاره سپکي وګڼلي او په پټه خوله يې د قومندان خبري واورېدلې او د سلام تر کولو وروسته له دفتره څخه ووت، وايي چي د ماپښين د لمانځه وخت و چي شکور د حبيب الله ماما کوټې ته نژدې ورغی او بيا يې ږغ وکړ چي حبيب الله ژوندی يې که مړ؟ خو هغه د کوټې څخه ږغ وانه ورېدی بيا يې په لوړ ږغ همدا پوښتنه وکړه چي حبيب الله ماما د خپل عادت په ډول اول وټوخل او بيا يې وويل چي هو ژوندی يم، بنګ مرګ نه لري بيا د يوه سرمامور د لاسه خو بېخي نه، خو اوس د ماپښين د لمانځه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دی زما کالي هم لمانځه ته ښه نه دي او پټو مي هم په هغه کوټه کي پاته دی که یوه ځواني وکړې چي هغه پټو مي راوړې او د اودس لپاره اوبه راته پیدا کړې نو بس زیاتره یار مي یې، شکور چي دا خبري واورېدې نو په یوه ځغستا یې د کوټې څخه پټو او د خپل کاغوشه څخه د اوبو کوزه راوړه او بیا یې د حبیب الله ماما د کوټې مخ ته کښېښوله او پر هغه یې ږغ وکړ چي حبیب الله دا دی پټو او اوبه مي د اوداسه لپاره راوړې، حبیب الله ماما هم اوبه او پټو واخیستل اول یې اودس تازه کړ او بیا یې د پټو څخه د حج ډول لونګ وواهه او په ناستي یې خپل لمونځ وکړ، دا ورځ تېره سوه او حبیب الله ماما هغسي د خپلو زخمونو سره د ماخستن تر لمانځه په خپله کوټه کي پاته سو هیڅ څوك د قومندان له ډاره هغې کوټې ته ور نغلی خو چي قومندان ولاړی او قومنداني نوکریوال ته ورسېده په ډېر تلوار شکور چپه دست د حبیب الله ماما کوټې ته ورغی او یو لړ واسلین یې د شا بازول ګولیو سره وروړل او پر حبیب الله ماما یې ږغ وکړ چي حبیب الله دا لړ واسلین او میده سوي ګولۍ دي خپلي تغمې او زخمونه دي غوړ کړه، حبیب الله ماما ورته وویل چي زه خو لا جوړ یم دا خو دي ډېر وختي پر ما پوښتنه وکړه ته خو یوه دوې هفتې تر وهلو صبر وکړه وروسته بیا که پوښتنه وکړې نو به دي واسلینو ته اړ یم اوس خو خیر خیریت دی زه واسلین نه غواړم خیر ووینې، شکور چي د خپلي پیرزویني څخه پښېمانه ښکارېدی نو یې پر ماما ږغ وکړ چي ته خو لا د خپله خره نه یې اوښتي ما د پیرزویني دوا درته راوړه او ته لا نوري خبري هم کوې، چي اوبه دي غوښتې خو داسي دي ورېښل اوس بیا څه ټکه درباندي پرېوته چي چپه واوښتې، حبیب الله ماما په جواب کي وویل چي ته رښتیا وایې هغه خو مي د اودس لپاره اوبه غوښتې زه خو خدای ته نه یم یاغي سوی د خدای د فرض د ادا کولو لپاره خو مي باید زاری کړي وای، خو واسلین زما د درد د کرارولو لپاره دي نو ځکه یې نه غواړم بس زیاتره پوه سوې، خیر ووینې ماته ورسېدل، شکور نا امیده بیرته ولاړ خو د شپې یې یو دروند تلتك د حبیب الله ماما کوټې ته د یوه بل عسکر په لاس ولېږی او هغه هم په دې بهانه چي نن د تلتك د تبدیلۍ نوبت دی، خیر څه سر دي پرله ګرځوم شپه تېره سوه بیا سهار سو او بیا هغه بازار. قومندان راغی او حاضر باش ته یې امر وکړ چي، داوده ته ولاړ سه او هغه لچك را حاضر کړه، داود هم د امر سره سم ولاړی او حبیب الله ماما یې دفتر ته راوست په دې وخت کي قومندان خپل مخ د کلکین خواته نیولي و او د هغه ځایه څخه یې د حاضر باشه پوښتنه وکړه چي داود څوك دی؟ داود جواب ورکړ چي هغه چي تا ویل راېې وله دا دی را مي وستی، قومندان بیا پوښتنه وکړه چي هغه څوك دي؟ او ما. . . د قومندان خبره لا نه وه خلاصه سوې چي حبیب الله ماما ور ږغ کړه چي زه یم بنګ، د کندهار بنګ قومندان مخ راواړاوه او بیا یې حاضر باش ته وویل چي دا لچك زما دمخه لیري کړئ او بیا یې تر وهلو لاندي واچوئ، چي ما نه وي ویلي تر هغو یې مه خوشي کوئ، حاضر باش بیا حبیب الله ماما هاغه ځای ته بوت چي پرون یې بېولی و او هلته بیا هغسي وهل شروع سوه لکه پرون چي وه.

یارانو څه سر مو پرله ګرځوم په دې ورځ بیا حاجي لطیف د کندهار ښار د څو تنو مشرانو سره یو ځای د پولیسو قومندانۍ ته راغی، او ل یې د قومندان څخه د حبیب الله ماما د حال او احوال پوښتنه وکړه او په یو مانا داره ډول یې وویل چي قومندان صاحب موږ د ښار څو مشران راغلي یو چي که چیري د حبیب الله ماما دوسیه او فقره خلاصه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې وي او ستاسي اجازه وي هغه ته د ښار ډېر ياران سترګي پر لار دي موږ ويل چي که ستاسو اجازه وي هغه به زموږ سره ولاړ سي او که يې دوسيه هم ډېره درنه وي نو دا دي موږ د دې ښار څو مشران راغلي يو او هغه زموږ په ضمانت راته پرېږده، د حاجي لطيف خبري لانه وې خلاصي سوي چي پاشمول حميد خان خبره ورسره غبرګه کړه او وې ويل چي قومندان صاحب لطيف جان ښه خبره کوي،که هغه نه منې نو دا دی زه د حبيب الله ماما پر ځای په محبس کي کښېنم خو هغه ته اجازه ورکړه چي ولاړ سي، ته باور وکړه چي يوازي د برو دروازې ياران نه دي پسي خفه سوي د کندهار زوړ او ځوان چي خبر سوی په هغه پسي خفه سوی دی.

قومندان چي د پاشمول د حميد خان خبري واورېدې نو يې و ليطف جان ته مخ راواړاوه او وې ويل چي ګوره لطيف جانه تاته خو مي هغه بله ورځ هم اختيار درکی چي ورسه او خبري ورسره وکړه، تاسي واياست چي حبيب الله ماما، خو زه چي د هغه څخه پوښتنه کوم چي نوم دي څه دی هغه خپل نوم نه وايي دا دی اوس بيا تاسي ته وايم چي ورسئ او ورته و واياست چي هغه زما پوښتنو ته سم ځواب راکي نور هغه رخصت دی هغه به ستاسي سره يو ځای ولاړ سي، په دې وخت کي باري خان بړغ وکړ چي دا څه وايې، بنګ خو ياغي او د حکومت توري نه دي چي ستا پوښتنو ته جواب نه وايي دا کار خو زموږ د ښه ځوانانو عادت دی چي د حکومتيانو خبرو ته جواب ونه وايو د باري خان خبره لا نه وه خلاصه سوې چي قومندان وويل :

دا دی لطيف جان شاهد دی خو دا چي تاسي بيا راغلي ياست زما خبره هم هغه ده، ورسئ او ورته ووایاست چي زما پوښتنو ته سم جواب راکي هغه به رخصت کړم، ځئ همدا اوس يو يا دوه تنه ورسئ او دا لانجه حل کئ، د قومندان د خبرو وروسته لطيف جان مخ يارانو ته وګرځوی او وې ويل چي يارانو خبره دا نه ده چي بنګ پوښتنو ته جواب نه وايي اصلي خبره په مات کي ده قومندان صاحب غواړي چي حبيب الله ماما ماته ومني خو هغه موږ او تاسي ته معلوم دی چي مرګ مني ولي مات نه مني، د لطيف جان د دې خبري سره ټولو په يوه بړغ وويل چي هو هغه خو د کندهار بنګ دی هغه مات نه مني، په دې وخت کي د پاشمول حميد خان وويل: چي قومندان صاحب زه خو ستا په خبره پوه نه سوم د حکومت صاحب منصب يې چي د هغه څخه پوښتنه کوې او که د بنګ سوست او ټينګ معلوموې؟ که ته غواړې چي د هغه مات واورې نو دا ارمان به ګور ته يوسې بنګ ته ډېر په دې نيت راغلي چي مات يې واوري خو هغه خپله مات سوي دي زه خو وايم چي ته د حکومت سړی يې که چا کومه کاڼه واڼه پېښه کړه نو يې راوله او پوښتني ځني وکړه، خو په دې خبره زه اوس پوه سوم چي ته حکومتي نه يې بل ډول يې که دا خبره وي نو بيا زه ستا امر نه منم او دا اوس ولاړېږم چي يا به مي حبيب الله ماما د کوټې قلفۍ را ايستلی وي او يا به مي پر چهار پايي سپېرې ته بيايي بس بله خبره نه سته يارانو راځئ.

قومندان چي په خپل دفتر کي بلوا وليدله نو يې لطيف جان ته مخ واړاوه او وې ويل چي لطيف جانه دا خبري ستا انډيوال ته ګټه نه رسوي که نوري داسي خبري وسي نو بيا به هغه ته يوه جزايي دوسيه جوړه سي او د عمرو بنديخانې ته به برابر سي لطيف جان د قومندان خبري لنډې کړې او وې ويل چي قومندان صاحب دا خبره خو لکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چي غواړي داسي نه کيږي بنګ، بنګ دی هغه ته مرګ منلی دی نه مات خو زه وايم چي راځه يو څه ته تر خپلي خبري تېر سه او يو څه به ياران په حبيب الله ماما ومني، قومندان چي د ډېري سره مخ سوی و نو لطيف جان ته يې وويل چي ښه نو ته څه وايې چي څنګه سي؟ لطيف جان وويل چي ما برايي شپه ډېر فکر وکی اوس يارانو بنده داده چي قومندان صاحب د حبيب الله ماما نوم غواړي او حبيب الله ماما د خپل نوم پر ځای هغه نوم وايي چي په کندهار کي په هغه مشهوره دی نو بيا مي دا وويل چي دا خبره به داسي حل کړو چي قومندان صاحب دي ورسي او دحبيب الله ماما څخه دي پوښتنه وکړي چي ستا نوم حبيب الله دی؟ د دې پوښتني په جواب کي به حبيب الله ماما ورته ووايي چي هو زه بنګ حبيب الله يم، په دې ډول به د قومندان صاحب د پوښتني جواب هم سوی وي او حبيب الله ماما ته به هم هغه خپل حال پاته سوی وي، قومندان چي د يوې هفتې وهلو ټکولو څخه نور ستړی و نو يې د لطيف جان دا خبره ومنله، د مجلسه دري څلور تنه ياران د حبيب الله ماما په لور روان سول د قومندان حاضر باش ټول هغه ځاي ته بوتلل چي هلته حبيب الله ماما تر وهلو لاندي و، يارانو چي د حبيب الله ماما دا حال وليدی نو ډېر غمګين شول، حبيب الله ماما دواړه لاسونه تر خپل سر لاندي کړي او د لنګوټې شمله يې پر خپل مخ را کش کړې وه داسي پروت و چي ته به وايې په هغه کي ساه نسته، د تن کالي يې ټول په وينو داسي لژند وو ته به وايې چي د سره نيلي رنګ دي پر پاشلی دی، څنګ ته يې د ماتو لښتو خرمن پروت و او لا نوري لښتي په پېخر پاته وې، د حبيب الله ماما يارانو د قومندان حاضرباش ته وويل چي عسکرو ته ووايه چي نور وهل بس کي، ګوره چي هغه مړ دی او که ژوندی، حاضګر باش هم وويل چي نور وهل بس کړئ، د دې ږغ سره يو ځای حبيب الله ماما د خپل مخه شمله پورته کړه او بيا يې و حاضر باش ته وويل چي څه خبره ده کوم ګيدړ به په دې لښتو مړکيږي، د حبيب الله ماما د دې خبري سره سم يوه يار ږغ وکړ چي، ماما زه يم، ملا کمال ودي پيژندم؟ بنګ چي خپل ياران وليدل نو سر يې را پورته کړ او چارزانو کښېنستی بيا يې وويل: چي خير دي وي يارانو څنګه را پېښ سواست خيريت خو دی؟ بيا ملا کمال ورته وويل چي موږ څو ياران راغلو چي ستا او د قومندان تر ميان خبره خلاصه کو، اوس نور ياران د قومندان په کوټه کي ناست دي او موږ راغلو چي ته هم زموږ سره ولاړ سې را ولاړ سه که پر پښو نه سې تللای نو زه به دې په شا کم، په دې وخت کي د ګوشخانې شاه محمد ورته وويل چي ياره راځه موږ خبره خلاصه کړې ده، حبيب الله ماما چي خپل ياران په ډېر تلوار وليدل نو يې د خپلې لنګوټې په ترلو کرار کرار شروع وکړه او بيا يې وويل چي يارانو تاسي خفه نه سئ زما او د قومندان تر منځ وختي خبره خلاصه سوې ده ما هغه ته ويلي چي لاس دي خلاص، اوس تاسي ولاړ سئ او قومندان ته مه ورځئ کرار خپلو کورو ته ولاړ سئ ما او قومندان پرېږدئ موږ که نن وي که سبا سره جوړېږو، ملا کمال بيا ورته وويل چي نه موږ نه ځو موږ اوس راغلي يو قومندان ته مو وويل چي خبره سمه ده يوازي به قومندان دا پوښتنه وکي ته حبيب الله يې او ته به په جواب کي ورته ووايې چي هو، بس همدا خبره ده راځه چي ځو، ته هم سر زوري کوې د حکومت د سړي سره دي نيولې ده، راځه چي ځو، حبيب الله ماما و ملا کمال ته مخ واړاوه او وې ويل چي ملا زويه بس زياتره ته پوهېږې چي زه څوك يم؟ ملا ورته وويل چي هو تا به څنګه څوك نه پيژني، بنګ بيا وويل چي ښه ته ووايه چي زه څوك يم، ملا ورته وويل چي دا څه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتني کوې بنګه ورورہ تا لکه چي زه ونه پېژندلم زه ملا کمال يم، بنګ بيا ورته وويل چي هو ته مي ښه وپېژندلې خو ما ويل داسي نه چي زه دي هېر سوي يم اوس چي دي زه په ياد سوم نو ورسه او قومندان ته ووايه چي زه بنګ يم بل نوم نه لرم، ملا ورته وويل چي هو مورږ هم همداسي خبره غوټه کړې هغه به پوښتنه کوي چي ته حبيب الله يې ته به ورته وايې چي هو زه بنګ حبيب الله يم نو به خبره خلاصه سي، د ملا او بنګ تر ميان خبري اوړدې سوې چي په دې وخت کي لطيف جان قومندان ته وويل چي قومندان صاحب که ستا خوښه وي مورږ او تاسي به ټول ورسو هم به خبره خلاصه سي او هم به حبيب الله ماما ته د وتلو اجازه ورکړې، ټولو ناستو خلګو خوښه کړه او له قومندان سره يو ځای د حبيب الله ماما پر خوا راغلل، لکه چي وعده سوې وه قومندان حبيب الله ماما ته وويل چي ته حبيب الله يې؟ بنګ په جواب کي وويل چي هو زه بنګ يم د کندهار بنګ قومندان چي د خپل مرضي جواب وا نه ورېدی نو يې لطيف جان ته مخ واړاوه او وې ويل چي دا دی هغه لا نه وايي چي څوك دی، لطيف جان وويل قومندان صاحب دا چي هو يې وويل دا هم زمورږ د يارانو په خاطر ده دا هم زمورږ لپاره ده همدا ومنه او مورږ ته اجازه را کړه چي د خپل بنګ سره يو ځای ولاړ سو.

وايي چي قومندان د يوې خوا د بنګ مړانه وليده او د بلي خوا يې د بنګ د انډيوالانو ټينګار نو د بنګ خواته نژدې سو او ورته وې ويل چي حبيب الله جانه ته نور يوازي د خپلو انډيوالانو او کندهار بنګ نه يې، زما بنګ هم يې اوس به تا و ډاکتر ته ولېږم چي دوا دي وکړي نور ته ازاد يې زما په قومندانۍ کي ته بنګ يې په دې ورځو کي چي ته زما سره وې ستا په باره کي مي ډېر څه واورېدل ډېرو راته وويل چي بنګ غښتلی ديناره او د ورېنداري سړی دی، اوس چي دي دا معلومه کړه، نو ته زماله خوا هم بنګ يې، بنګ چي د قومندان د انډيوالۍ او دوستۍ خبري واورېدلې نو خپله لنګوټه يې وترله او وې ويل چي يا قومندان صاحب دا د خلګو خپل ښه والی دی زه يو عاجز بنده يم دا چي تا ماته بنګ وويل دا ستا کار دی خو زه د خپل پاچا امر پر سر او سترګو منم او ته زمورږ د پاچا صاحب منصب يې او زه خاوري حبيب الله اوس نو خبره خلاصه ده، لطيف جان چي د بنګ د غروره ډکي خبري واورېدې نو يې قومندان ته وويل چي قومندان صاحب دا بنګ دی ټول کندهار يې پېژني که دي خپل ږغ پر لوړکی دی خپل ږغ ستا تر ږغ خامخا لوړوي او که دي ورو ورته وويل بيا نو ځان درباندي قربانوي دا د ښه ځوانانو عادت دی او بنګ هم د کندهار يو ښه ځوان دی، په دې وخت کي د بنګ يارانو بنګ د ځانه سره د کور پر لور روان کړ او تر څو ورځو دارو او درمل وروسته بيا د برو دروازې مجلسونه په تازه سول.

بنګ حبيب الله چي په حبيب الله ماما مشهوره دی اوس د برو دروازې په يوه پخوانۍ کوڅه کي ژوند کوي، او په همدې کوڅه کي يې د خپل ژوند سل پسرليه په پوره ميړانه او سر لوړی تېر کړي دي، د بنګ پلار مشکو اکا نومېده په قوم سليمان خيل و، چي د خپل ژوند په ځوانۍ کي يې يو کور ودان کړ او بنګ د خپلي ټولي کورنۍ سره يو ځای په همدې کورکي اوسيږي، د خپل ملکيت دوه سماواره لري چي يو يې د پلار ميراث او بل د هغه د يو ملګري له خوا ورته بخښل سوی دی بنګ دوې مېرمني لري يو ځل يې د خپلو دوستانو په منځ کي واده کړی او بل ځل په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زندان کي د هغه یوه انډیوال خپله لور ورته بخښلې ده د لوڼو او زامنو شمېر يې اوولسو تنو ته رسيږي، د بنګ مشر زوی فیض الله او کشر زوی يې محمد داود نوميږي چي اوس تقريباً (16) کلن دي حبيب الله ماما اوس د خپل کور په څنګ کي د مسجد د ملا امام په مرسته د قران عظيم الشان د حفظ کولو په هڅو مصروف دي.

1374هجري شمسي کال

د کندهار ښار، برو دروازه

يادونه:

دا ليکنه د بنګ په ژوند کي سوې ده خو اوس دا نامي وفات سوی دی، خدايج دی وبخښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځونه

.1بدوی، عبدالمجید، قابوس نامه، (تهران، دانشگاه تهران، 1335)

.2حبيبي، عبدالحي (درباره عیاران) اریانا، شماره سال نهم (کابل، مطبعه دولتي، 1326)

.3حبيبي عبدالحي افغانستان بعد از اسلام جلد اول (کابل، مطبعه دولتي 1346).

.4خانلری، پريوز، ( اين عياري) سخن شماره 11_12 سال 1348.

.5خټك خوشال دستار نامه (کابل، پښتو ټولنه 1348).

.6خواند مير حبيب السير، جلد دوم (تهران خيام، 1353)

.7 د هخدا، لغت نامه دهخدا، صف ع جلد 35 (تهران امير کبير،1329.

.8علي صفي، فخر الدين، لطائف الطوائف چاپ دوم (تهران اقبال 1346).

.9عوفي سديد الدين، جوامع الکايات و لوامع الروايات، جلد دوم (تهران بنياد فرهنگ، 1353).

.10غبار غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ (کابل مطبعه کابل، 1346).

.11فراموز بن خداد، سمك عيار، (تهران، دانشگاه تهران، 1343).

.12کاشفي، واعظ فتوت نامه سلطاني (تهران بنياد فرهنگ، 1350)

.13نظام الملك، ابو علی، سیاست نامه و (تهران، چاپخانه حيدري، 1334).

تاریخ سستان مصحح بهار، (تهران خاور، 1314).

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**